په چک اوډ ايمر دادوکي

# اسلامي پاڅون

ليکوال : محمد زبير «شفيق»

بسم الله الرحمن الرحیم

په چک او دایم ردادوکې

# اسلامي پاڅون

١

لیکوال: "شفیقي"

دکتاب مشخصات

نوم :اسلامي خوځښت او پاڅون

ليکوال: م، ز "شفيقی"

خپرونه : دچک ولسوالۍ دښوونې اوروزنې ځانګې لخوا

دچاپ کال: د "۱۳۶۷" کال دثور مياشت

شمير : زرټوکه

دچاپ ځای : شرکت پريس لاهور

دچاپ حق محفوظ دی .

# اهدا

دغه اثر دشهیدروزونکي افغانستان دسورگفنو شهیدانوارواوءاوپه‌سنگروکې ناستو تاریخ جوړوونکو غازیانو ته اهدا کوم کوم چې‌لگیا دي شپه اوورځ دتاریخ پاڼوته دویاړنه ډکې کارنامې اوحماسې سپاري.

"شفیقي"

# فهرست


| گڼه | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | سریزه | |
| ۲ | لومړی فصل چک اولسوالی اودایمردادو علاقه داری. | |
| ۳ | موقعیت ، اقلیم اوطبیعی جوړښت ئی | |
| ۴ | دثورله فاجعی څخه پخواسیاسی او اقتصادی حالات . | |
| ۵ | دثور فاجعه اوپه ولس یی اغیزی | |
| ۶ | دزندان په لور. | |
| ۷ | دهجرت لړی | |
| ۸ | دخلقی ضد کودتاتردوهم کال پوری | |
| ۹ | دتره کی رژیم ناکامه دسیسه | |
| ۱۰ | داسلامی پاڅون پیلامه اودمسلمانانو لیدنی کتنی . | |
| ۱۱ | په علاقه داری کی دټوپکوویش او پاڅون . | |

۱۲- په ولسوالی کی دټوپکوویش اوپاڅون

۱۳- دخوات بیکسمنداواله سنګ حوزه

۱۴- دخوات علیا ، شیبکی اوګردن مسجد حوزه

۱۵- دعربانوا وابکذار حوزه .

۱۶- دټوپکوتښتول اوپرولسوالی حمله .

۱۷- په سیمه کی دخلقیانوانقلابی اعدام اوتصفیه .

۱۸- دچک پرولسوالی دکمونستانولومړی حمله .

۱۹- دجګړی تیاری دقوی وتل اودولسوالی فتح.

۲۰- دکمونستانو دوهم یرغل

۲۱- دولسوالی فعالول اوجهادی نظم

۲۲- دکمونستانودریم یرغل.

بسم الله الرحمن الرحیم

# سریزه

زموږ مسلمان او اتل ملت د نړۍ په ملتونو کې د یوه اتل، سرتېري او تېري نه زغموونکي ملت په نوم پېژندل شوی دی، دا ځکه چې څلورم ځل دی چې نړیوال یرغلگري د ښکېلولو لوټلو په تمه په دې درسته نړۍ رسوا او رسوا کړل، او دا دی څلورم یرغلگر بیا زموږ د مؤمن ملت تر ایماني گوزارونو لاندې د پښېمانۍ تونې وباسي!!!

تر ننه پورې څو داسې یرغلگر او تالانگر چې د نړۍ د هېوادونو او ښکېلولو خیال او هوس ور سره وو، زموږ د هېواد په سر ډډو کې په گونډو او رانسکور شوي دي، درست نړیوال زموږ د غیرتي هېوادوالو په هغو غورځنگونو چې د سکندر، چنگیز، او انگریز په یرغلگرو یو ځونو باندې یې کړي دي، خبر دي.

له سکندر نه هم د نړۍ نیونې خیال د هندوکش په سر درو کې هېر شو، له مغلي چنگیز نه هم او د نولسمې پېړۍ له شیطاني سنبل انگریز نه هم!!!

او دا دی نن یې د اوسنۍ نړۍ خور روسي ښکېلاکګرو تخنه هم حماسې د نیښتې روګودر هېر کړي دي او زمونږ د شیراد په سردروکې د سرګ او ژوند ترمنځ د غیرتي او مسلمان افغان د متېو او زور اعتراف ته مجبور شوی، زمونږ هیواد ورته د ناسور تېپ او ښتی چې نه یې د رغېدو په چل پوهېږي او نه د عملیات.

زمونږ هیواد خو د تاریخي حقایقو په بنا له پخوانه یرغلګرو ته د ناسور تېپ په څېر سوځوونکی او غموونکی ؤ، خو د سوسیال امپریالیزم د واکدارانو د شتل او د بصیرت سترګې د غرور پرده ورپوښلې وې چې لال او سکروټه یې یو له بله ونه پېژندل.

زمونږ د مسلمان ملّت په اتلوالو مجاهدو او مبارزو د تاریخ بابونه ډک دي، او دا دي نن بیا د الله ج په مرسته دیوبل یرغلګر په وړاندې د میړانې، کیسې او حماسې د تاریخ زرینو څپر نه سپاري، قرباني ورکوي، وینې توېوي، رنګارنګ ستونځې او فشارونه زغمي خو د ښکېلاکګرو خوله یې هم له خاورو ورډکه کړې ده، د پیسو د سیسو او ګنشپونو خاوندان یې د ایمان په زور را په ګونډو کړي دي او د عقیدې او وطن له حریم نه د دفاع په مورچو کې شپې سبا کوي ترڅو د راتلونکو نسلونو لپاره د خپلو تېرو او سلانو د قربانیو د ټنو ولاړه روښانه او رونه ساتي

ستاسو په ورانډې لیکنه ن موږ د اسلامي افغانستان په یوه کوټ کې د اسلامي ضد اینړموتوا وخواکو نو په وړاندې د تاریخ جوړوونکو زلیانو د غیرت، قربانۍ، او اتلتوب کیسې دي زموږ د سیوادله داسې یوه گوټ څخه د رته خبرې کوي چې د روسي گوډاگیانو په پره سترره د سیسه بې شتنده کره او نن ئې په پرهر پرهر بدن د اسلامي پاڅون ویاړلی کاروان د وینو، اوروتو او ویړونو په وات کې د وروستي بري په لور مخ یون کوي.

هوکې! نره د وردگو ولایت د چک اولسوالۍ او د ایمرداد و علاقه دارۍ مؤمن بچیان یادوم، کوم چې د نره کې کافرنه بې د جهاد او پاڅون لپاره وسلې او وسیلې تر لاسه او بېرته یې پرمکار دښمن خولې ورواړولې.

قدرمن لوستوال به تر لاس لاندې لیکنه کې د همدغه پر اسلام مینې سیمې « د چک اولسوالۍ او د ایمرداد و علاقه دارۍ » د اسلامي پاڅون پېښې بو پر بل پسې ولولي، که څه هم تر اوسه پورې د پورتنۍ سیمې د جهاد په هکله نیت او پرک لږ او د پرته، بیکل شوي دي خو په پرلپسې ډول د پېښو په باب داسې لیکنې چې د پورتنۍ ذکر شوې سیمې پر جهاد هراړخیز بحث وکړي

نه دي ترسره شوې او دغه اثر د بشپړتيا له دې که بې سارې او د حقايقو له حيثه ترنورو ليکنو حقيقت ته نږدې دی او په زغرده باوري بولم، سره له دې چې په دغه برخه کې د درنو او قدرمنو ليکوالو ليکنې او زيارته په قدر گورم خو بايد ووايم چې د دغه اثر ځينې پېښې او نښتې يا د ځينو ليکوالو له ليکنو سره ئې توپير ولري، ښايي همغه د دغه توپير پړه د دغه اثر په ليکوال ورواچوي، زه نور څه پکې نه وايم يوازې دا ښکاره کوم چې د دغه ليکنې محتويات حقيقت ته ځکه نږدې بولم چې يا د ليکوال شخصي يادښتونه او سترگو ليدلي حالات دي او يا د پېښو له عيني شاهدانو څخه په پراخه پيمانه تحقيق او پلټنه پکې شوې ده او په ډېر امانت يې د پېښو نرنگ کولو زيار پرمخ روان دی.

په پای کې لازمه بولم ځينو هغو ورونو ته د زړه له کومي کوره ودانۍ ووايم چې زه يې په دغه ستونزمنه لاره کې د حقايقو په لټولو کې يوازې نه يم پرېښی او هر راز ملگرتيا يې راسره کړې ده.

او په جرأت سره وايم چې دغه ليکنه يوازې زما نه بلکې زما د هم دغه ورونو گډ جهادي خدمت دی، له خدايه

د دغه سیمې د اتلو مجاهدینو د حماسو قدم، پر قدم څرګندیا کولو او کښلو برخه غواړم.

په مینه او درنښت

محمد زبیر شفیقي

۱۳۶۶ کال د دلوې میاشتې شپږمه

# لومړی فصل

## د چک اولسوالي او د ایمرادو علاقه داري

لاندې مونږ خو دا بریښي چې د نه اولسوالي او علاقه داري په جلا جلا ډول ترڅېړنې لاندې نیولې شوي وای ځکه دوا ړه یو له بل نه جلا تشکیلات درلودل، خو د دې لپاره چې په جهاد کې د دغه اولسوالۍ او علاقه دارۍ اداري سیستم او تشکیل سره یو شو، پاڅون ته هم په یوه قوماندانه، یوه انګیزه او یوه نیته پیل شوی دی، له بلې خوا علاقه داري او اولسوالي د یوه دریځ او سیمې حیثیت لري چې د ختیځ نه د لوید یځ په لور او بر ډي غزیدلې، نو د جلا څیړنې او بحث لپاره یې سوال نه پیدا کیږي، البته کوم ځای چې د جلا جلا بحث او څیړنې ضرورت او اړه پیدا کیږي جلا به خبرې ور باندې وکړو۔

اوس به را شو دې موضوع ته چې د یوې سیمې د کومې لوی تاریخي پیښې په اړه څه بیکلو ته ضروري ده چې د هغه

سيمې موقعيت، اقتصادي حالت، د خلکو ژوند، او د هغه تاريخي
پېښې نه پخوانۍ حالت و څېړل شي تر څو د پېښې په باب
انګېزه او په هغه کې شامل کسان و پېژندل شي، په همدې
اساس د چک او لسوالۍ او د ايمرا د و علاقه دارۍ د اسلامي
پاڅون د پېښېدو له بحث نه رومبې د سيمې پر سياسي پس منظر
رڼا اچوو، د سيمې پر طبيعي جوړښت، موقعيت او اقليم په باب
هم چې په اسلامي پاڅون کې يې اهميت څرګند شي، خبرې
کوو. وروسته به د اسلامي پاڅون په باب په مفصل ډول
څېړنې ته دوام ورکړو.

# موقعیت، اقلیم او طبیعي جوړښت

د چک اولسوالۍ او دایمرداد علاقه دارۍ د وردګو میدان ولایت له مربوطاتو څخه دي چې د میدان او سیدآباد ترمنځ په مرکزي برخه کې له ختیځ نه لویدیځ لوري ته یو پر بل پسې دیوې سیمې په څېر د (۶۵) کیلو مترو په شا وخوا کې اوږدې غځیدلې دي، دا اولسوالۍ ختیځ لورته د لوګر ولایت او د علاقه دارۍ لویدیځ پلوته هزاره جات موقعیت لري، شمال پلوته یې د نرخ علاقه دارۍ او جلریز برید شریک دی او جنوب لوري ته یې د سیدآباد اولسوالي پرته ده،

علاقه داري نږدې په نیمایي برخه کې په دوو درو باندې ویشل شوې ده چې په منځنۍ برخه کې بیا سره یو ځای کیږي او په یوه دره بدلیږي، لویدیځې خواته د علاقه دارۍ دواړه درې د هزاره جاتو له، دایمرداد، سره برید لري، په دواړو درو کې یو یو سیند بهیږي چې بیا دواړه سیندونه د "بابک" په کلي کې سره یو ځای کیږي او د اولسوالۍ په لوري خپل بهیر ته دوام ورکوي، نوموړی سیند د چک له حدودو څخه

تېرېږي او د ‹‹سيدآباد›› اولسوالۍ مربوطو شيخ آباد او تنګي ‹‹د روته بهېږي، وروسته بيا د لوګر برکي برک پرا خو ځمکو ته اوبه ورکوي، همدغه سيند د افغانستان په جغرافيه کې لوګرد سيند په نامه پېژندل شوی دی، پردغه سيند د پاسه د چک په برخه کې د برښنا بند تړل شوی، او د ‹‹۱›› کيلو متره لرې، د يوه کانال په واسطه خپځ لوري ته د ‹‹خوات›› په سيمه کې د برښنا توربين ته اوبه ورکوي، له دغه برښنا ځخه څخوا د کابل ښار او ميدان ښار په کورونو رونيا نولو کې ګټه اخستل کېده، خو اوس سلامي پاخون ځخه وروسته د کابل په لور د برښنا غزيدلي مزي پرې شول او اوس د سيمې يوازې څو محدودو کليو ته برښنا ورکوي.

د چک اولسوالۍ او سيدآباد اولسوالۍ ترمنځ بريد د دوشاخ، مدو، د ‹‹شيلي›› او سيبکي غرونو لړۍ دي چې له شيخ آباده تر ګوبت غره پورې غزيدلي، د چک اولسوالۍ او نرخ علاقه دارۍ ترمنځ هم د عليشي غرو طبيعي ديوال په خپر ښخ ولاړ دی، د سيمې ګډ غرچې د بحر له سطحې ځخه ۲۵۰۰ متره لوړوالی لري او تل يې پرسر د واوروڅو واورونه ابنارونه پراته وي، د جلريز او دايمرداد و علاقه دارۍ ترمنځ طبيعي بريد

تنګي، همدارنګه د ولسوالۍ او علاقه دارۍ په منځ کې د اوښلان غرو د
علیشنګ غر، د عربانو د غرونو لړۍ، د سپینې کندې د غرونو لړۍ چې
تر بیک سمند پورې او ږدې غځېدلې او د علیشنګ له غره سره
تړلې شوې، د مجاهدینو لپاره زیات جنګي اهمیت لري.

په عمومي ډول د وردګو ولایت غرونه د نورو مرکزي
ولایاتو د غرونو په څېر لوړ دي او ځنګلونه نلري. خو سپینې کندې
علیشنګ او ګوربیت غرونه لوی لوی ګرنګونه او ګڼ ځنګلونه لري چې د
مجاهدینو د مرکزونو لپاره مناسب دي.

د چک او ولسوالۍ او دایمرداد علاقه دارۍ د اوبو، هوا
او زراعتي پیداوار له پلوه تقریبًا یو شان دي، د نرخ درجه
د اولسوالۍ په نسبت په علاقه دارۍ کې لږ څه جګه ده. ځکه د بحر له
سطحې څخه لږ څه لوړه واقع ده، په ژمي کې په دواړو ولسوالۍ او علاقه دارۍ
واورې اورې، پسرلی بیا باران خودوې یې وچ او نسبتًا تود وي، د
اولسوالۍ او علاقه دارۍ زیاته برخه شاړه او غرونه دي، د کرنې
ورځمکه یې د نفوسو په نسبت ډېره لږ ده، د مالدارۍ لپاره
مناسب څړځایونه پکې شته او خلک یې د څه کار نه څه ناڅه توجه لري

# د شوروي فاجعې څخه پخوا سياسي او اقتصادي حالات

د چک ولسوالۍ او د ايمرداوو علاقه دارۍ د نفوسو د زياتوالي ، د کرنې ور ځمکې د کمبود له امله د ديرې ورورسته پاتې او غريبې سيمې په شمير کې راځي ، په سلو کې دوه تنه او سيدونکي يې که د ژوندڅواک لپاره کافي ځمکه ولري نور د سيمې اکثريت نفوس خوار او د بهرنۍ مزدورۍ خوارۍ له لارې خپله نفقه پيدا کوي څرنګه چې د پخوانيو حکومتونو د بې کفايتۍ په اثر زمونږ ټول هيواد له اقتصادي نقطه نظره خورا بېرته پاتې وو ، همدغه وضعيت د کرملن مزدورانو ته د مسلمانانو د بې لارې کولو په لار کې ښه بانه او پلمه وه ، د دغه او ولسوالۍ او علاقه دارۍ اوسيدونکي هم د سختو اقتصادي ستونځو سره لاس او ګريوان وو ، له يوې خوا د کرنې سيستم همغه زوړ د ژغ او سپارې په واسطه سره ترسره کيده له بلې خوا د دغه مشکل د حل لپاره کومه بله لاره هم نه وه د دغه سيمې اکثريت خلک به په ژمي کې د کويټې د ښه برو سکرو په کانونو او په دوبۍ کې د ترکستان په سوځنده د ښتو او غرونو کښې د «هينجې»

په دا ټولو لو بوخت وو او د سیمې نږدې نیمایي زلمیان به د کار کسب لپاره بیرون ته وتل، چې نن هم د سیمې زیاتره وګړي ایران او پاکستان ته د مزدورۍ لپاره ځي ـ

د چک اولسوالي او د ایمرداد و علاقه دارۍ د سواد او علم له درکه د هیواد له منځنیو سیمو څخه ګڼل کیږي په دغه علم پالونکې اولسوالۍ او علاقه دارۍ کې لوی لوی دیني درسونه وو چې د با ایمانه او دینداره عالمانو او مدرسینو له خوا تدریس پکې کیده چې له جملې څخه، مولوي عبدالحلیم د لوړ کلي، مولوي احمدجان د خلیلي، مولوي شمس الدین د ببائي ملا صاحب، خواجه مولوي عبدالوهاب د کوټې، مولوي عبدالحکیم چه د لوی ملا صاحب په نامه سره مشهور ؤ، مولوي ماما «د لوړخیلو مولوي صاحب» او مولوي محمد یوسف چه د علیشې ملا صاحب په نوم سره مشهور ؤ د خوات په دره کې، د میلا ق آخوندزاده، مولوي عبدالغني او مولوي طلب الدین د عربانو په دره کې، مولوي عبد الشکور او مولوي عبدالقدیر د ګردن مسجد په دره کې او د علاقه دارۍ څخه مولوي نصرالله د چتو، او مولوي محمد نبي، د رشید مولوي صاحب لو مونه یادولای شو ـ

یاد شویو عالمانو ښه پیاوړي شاګردان وروزل چې ـ نن هم د هغوی اکثره شاګردان د اوسني جهاد په خوږ ګلزاره کې

دبلو ډیوو په څیر لار ښوونکي او سرلاري دي او د کفر پر خلاف د اتلو مجاهدینو په ښوونه او روزنه کې لوی لاس لري او پرون يې هم د ظاهرشاهي رژيم د ناکردو په وړاندې د ديني مسئوليتونو په تر سره کولو کې له هيڅ ډول ستونزو قبلولو څخه تخنګ ونه کړ د کله چې په ١٣٤٩ کال کی مرتد بارق شفيعي پرلنين درود ويلی و او بيا د هيواد با ايمانه او ويښو عالمانو د پلخشتي په جومات کې په احتجاجي مظاهرو پيل وکړ د چک اولسوالۍ او د ايمرداد و علاقه داری څنو عالمانو هم پکې برخه درلوده چې له جملې څخه مولوي محمد شيرين شجاعت، مولوي غلام محي الدين، مولوی محمد ظاهرجان آخوندزاده، ملا معصوم، عبدالرحيم جان آخوندزاده، ملا عبدالقادر «شهامت شهيد»، مولوي محمد کريم شهيد، ملا محمد هاشم شهيد، مولوي غلام دستګير او مولوي عبدالودود یادولای شو ذکر شويو کسانو د فاسد رژيم د ضربه قواوو برقي ډنډې او د زندانونو توري او نمجني خونې پر خپلو تنديو او بدنونو استقبال کړې خو د علم سپيڅلي جنډه يې د سازش او تسليم له ناروا تيارو څخه پاکه وساتله.

همدارنګه د اولسوالۍ په سطحه د هر کفري او اسلامي ضد حرکت په وړاندې په پوره ميړانه د سيمې د مومنو مجاهدينو د دفاع په سنګر کې دريدلي دي چې د سيمې خلقي په زنداني کولو کې د مولوي غلام

محی الدین او مولوي محمد حسن روڼ ، څمولود شریف د نمانځنې مراسم او نور د سیمې د مسئولیت پېژندونکو عالمانو د هلوځلو څخه د بېلګې په توګه یادولای شو۔

د چک اولسوالۍ او د ایمرداد و علاقه دارۍ په سلوکی نږدې لس تنه د سواد خاوندان دي ، په اولسوالۍ او علاقه دارۍ کې د تره کي له خونړي کودتا څخه مخکې یوه لیسه ، ځلور منځنې ښوونځي او دوولس په شاوخوا کې لومړني او کلیوالي ښوونځي پرانستلي شوي وو چې د زده کوونکو تقریبي شمېر یې (۴۵۰۰) تنو زده کوونکو په شاوخوا کې و.

د ببابی لیسې د اولسوالۍ د سیاسي فعالیتونو د مرکزحیثیت درلود او په (۱۳۴۹) کال کې د لومړي ځل لپاره د خلق پرچم او شعله جاوید ګوندونو فعالیتونه په دغه لیسه کې راښکاره او ورسره په لیسه کې د اسلامي غورځنګ بنسټ کینبودل شو۔

د اسلامي تحریک له پیل سره سم د چک اولسوالۍ او د ایمرداد و علاقه دارۍ ډېرو په اسلام مینو ځوانانو او عالمانو د دغه تحریک له یون سره خپل پیوستون اعلان او د اسلامي نظام د قیام له پاره یې د مبارزې په لغزنه او ستونزمنه لاره ګاموهنه او چټک کړل چې د مبارزې له لومړنیو کسانو څخه شهید مولوي عبدالرب «احدی» ، «زمرک یاسی» محمد نعیم بلال ، مولوی محمد نصرالدین ، شهید غلام حضرت منیب ،

شهید ډاکټر محمد کبیر، مدیر عبدالقیار، قاضی محمد بشیر «همت»، قاضی منګل، ډاکټر محمد خان، مولوي محمد شیرین «شجاعت»، مولوي غلام محی الدین، مولوی رحیم ګل انجنیر عبدالصمد شهید او ښاغلي انوال عبدالصمد نوموړه ډیاد ولو وړدی ذکر شوي کسانو د بېباڼۍ په لسه کی ډاکټر غلام حضرت زرغون، استاد امین الله «وحدت» استاد محمد داود «غیرت» جان محمد خان، انجنیر آغا شیرین، انجنیر عبدالولي، مولانا حبیب الله، استاد فضل الربي احدي، شهید زلمی اسلامي تحریک ته جذب او په لیسه کي په

---

ع۱:- دلومړي ځل لپاره اسلامي تحریک ته ورجذب شوي کسان چې وروسته د وردګو ولایت په سطح د ملي مسئولین وو غلام حضرت منیب شهید، زمرک «میاسۍ» محمد نعیم «بلال» ښاغلي انوال نقیب الله او ډاکټر محمد کبیر شهید، وو

پورتنیو کسانو د بېباڼۍ لیسه کی ښلنه پیل وکړه چه دووئ د ملي په اثر ډیرو کسانو د اسلامي تحریک د غړیتوب ویاړ ترلاسه کړ په ۱۳۵۲ کال کیښې د غو کسانو د مسلمانو ځوانانو په نوم تعهد نامی لاسلیک کړي دی، استاد غیرت، ډاکټر غلام حضرت «زرغون» استاد امین الله وحدت، استاد جان محمد خان، انجنیر آغا شیرین عبدالولی، شهید زلمی د بېباڼۍ لیسې زده کوونکو له ډلی څخه وو- همدارنګه په

په دغه کال د مولوي صاحب محمد نصیر په مستقیم دعوت مولوي محمد حسن او طالبانو کي مولوي عزت اله، معاذ الحق اخونزاده، ملا نور محمد، مولوي غلام محی الدین مولوي رحیم ګل او مولوي عبدالقدیر تعهد نامي لاسلیک او عملاً د اسلامي تحریک په لیکو کي ودریدل -

بلنه پیل وکړ. محمد ارنګه، مولوي محمد نصیرالدین د څنو طالب علمانو په جذب او تنظیم کې پوره برخه واخسته چې د ملا عبد القادر شهامت، ملا محمد هاشم شهید، عبدالرحیم خان اخوندزاده، عبد القدیر، معاذ الحق اخوندزاده، نوم نه یې د بلل شویو کسانو له ډلې څخه د یام وړ دي.

ځینې کسان بیا په کابل کې د اسلامي تحریک له لیکوسره یوځای شول چې د هغو په ډله کې مولوي عبد الرباني محمد حمید اخوندزاده، مولوي عبد الشکور مولوي غلام جان او نور شامل دي.[۵]

د چک په ولسوالۍ کې تر ټولو د مخه ډاکتر محمد کبیر شهید د بمیانۍ په لیسه کې استاد محمد عالم شهید، ډاکتر غلام حضرت "نزر غون" او امین الله وحدت په ۱۳۴۹ کال کې جذب کړل، چې وروسته په ۱۳۵۰ کال په بمیانۍ لیسه کې اسلامي غورځنګ

---

[۵] په دغه لیکنه کې د چک ولسوالۍ په سطح او اسلامي غورځنګ هم اړخیزه څیړنه او د هغو د ټولو غړو په باب معلومات اصلا مطلب نه دی، ممکن ځینې وروڼه د اسلامي تحریک په سطح ډیر فعال او د یادونې وړ وي چې دلته یې نوم نه وي اخستی شوي داد لیکوال د نه معلوماتو په وجه دی او کله چې وویل شول اصل مطلب د اسلامي پاڅون وروستی پېښې دي یوازې د سرې توضیح په اړه پر ځینو ابنو پیښو څخه لند نظر اچول لازم بریښیدل نو لیکوال هم په دغه برخه کې ځان په زیاتو معلوماتو د راټولولو مجبور نه بولي.

ښه زور ونیوو او په عملي ډګرکې یې کمونستانو ته ماته ورکړه په دغه وخت کې د تحریک فعالانو څیرو او فعالو کسانو ډاکتر غلام حضرت، امین الله وحدت، استاد «غیرت» ۱ انجنیر آغا شیرین، عبدالولی، شهید زلمی، غلام علي، شهید غلام درویش، وو.

په لنډه توګه باید ووېل شي چې د وردګو ولایت د پنځه کسیزې لومړنۍ هستې «ښاغلی نوال نقیب الله زموک یاسر» محمد نعیم بلال، ډاکتر محمد کبیر شهید او غلام حضرت منیب شهید، څخه دری تنو محمد نعیم بلال، ډاکتر محمد کبیر شهید او ښاغلی نوال نقیب الله ۲ په چک او سیدآباد کې ددعوت پاره موظف شوي وو.

د بهاني په لیسه کې ډیر زر اسلامي تحریک زور ونیو او په سیاسي لحاظ یې د کفري ایزمونو موقعیت په خطر کې وغورځاوه سره له دې چې د حکومت لخوا په هغوی هیڅ پابندي نه وه لګول شوې خو مسلمانو

---

۱: د استاد غیرت په شمول څښتی ورونه د تحریک پیل «۱۳۵۰» کال بولي.

۲: اصلي نوم یې محمد رسول او فرعي نوم یې ښاغلی نوال نقیب الله دی دغه ورونه اصلاً د سید آباد ولسوالۍ او سید ونکی دی خو تحریک ته یې د چک ولسوالۍ کې ډیر کسانو ور بللي دي د اسلامي تحریک له مخکښو کسانو څخه شمېرل کیږي نن ګډ د افغانستان د اسلامي حزب د حقیقت نظار دبیس دی.

زلیانو یې د بلنې لاړې ورباندې بندې کړې نه یې شو کولای چې لنور څوک یې لارې کړي ، د بمبایۍ په لیسه کې د د غه لیسې تړول خلقیا ن پرچیان او لنور د غیر اسلامي ګوندونو غړي په سلوکې (۹۰) د (۹۴ ۱۳۴ او ۱۳۵۰) کلونو جذب شوي کسان دي او وروسته وروسته یې د جذب کار کمزوری او حتی په هیڅ کې شمار شو ودی کار د لیل داو چې په لیسه کې دوې داسې پیښې وشوې چې د حقوق له کړ غیرنو هد فونو څخه ئې پرده پورته کړه او دلیسې زده کوونکې او سیمې مسلمانان یې پرضد له یوی ځې د پاریدل او د سیمې د مسلمانانو په زړونو کې یې پرخلاف ژوړه کرکه پیدا شوه بیا هم ځنې یې بندو یاره او په اخلاقي فسادونو ککړ کسان د خلقي معلمانو تر اغیز لاندې راتلل او کفري ګوندونو ته د جذب بیدل خو بر الایي د اسلام په خلاف کوم اقدام نشو کولای ـ

د (۱۳۵۰) کال د اسد په میاشت کې یو نن کمونست محمد سمیع د (۱۱) ټولګي زده کوونکي له خپلو ټولګیوالو ، محمد عالم شهید او امین الله « وحدت » سره په بحث او خبرو کې د اسلام په مقدساتو تیری وکړ سمدستي د ټولګي مسلمان زده کوونکي ترې راتاو او موضوع یې جنجال ته واچوله وروسته موضوع د مکتب د ادارې لخوا لـ بن غلې غوندې شوه خود مسلمانو زده کوونکو او سیمه وینکو د فشار په وجه د ګټنه بنووینکي مدیر عبد التیبار « هغه وخت په لیسه کې سیمه وینکي او د مسلمانانو د نظم

اداره کوونکی وه[1] او دوه تنه نور ښوونکی د موضوع د پلټنې لپاره هیئت وټاکل شول د پلټنې په جریان کې له زده کوونکو څخه د پېښې په باب پوښتنې وشوې چې (۱۷) تنو په محمد سمیع نومي شاهدي ووېله چې هغه د اسلام په مقدساتو تېری وکړ او دوی د هغه الفاظ ترې په خپلو غوږو اورېدلي (۵۷) تنو د دغه او و تنو په استناد شاهدي ووېله یعنې دوی داسې شاهدي اداکړه چې مونږ له (۱۷) تنو څخه اورېدلي چې سمیع نومي د کفر الفاظ ووېل درې تنو له اورېدو او شاهدۍ څخه انکار وکړ چې هغه هم د سمیع همفکره کسان وو.

په دې ډول په «سمیع» نومي جرم ثابت شو خو بیله دې چې د دغه جرم سزا ووېني د حکومت په مرسته له سیمې نه وتښتېده وروسته بیا په «شمالی» کې څه ماموریت ورسپارل شوی وه او د ۱۳۵۱ کال د جوزا په وروستیو شپو کې مولوي غلام محی الدین او مولوی محمد حسن[2] ولید

---

۱: مدیر عبدالضیاء اسلامي غورځنګ ته په لومړیو وختونو کې ورجذب شوی وه هغه چې د انجنیر حبیب الرحمن شهید ټولګیوال وه د هغه شهید په بلنه په ۱۳۴۸ کال د اسلامي تحریک په ډیاله لیکو ورګډ شوی دی او له شهید حبیب الرحمن سره یې د کابل په ټولو مظاهرو او غونډو کې برخه اخستې.

۲: مولوی محمد حسن د اسلامي تحریک پخوانی غړی وه اوس د سید آباد په اولسوالۍ کې د حرکت انقلاب اسلامي آمر دی.

ولسوالۍ ته یې په لاس ورکړې داخل چه هغه ببرالې وبنول شو دحکومت لخوا یې د خوشۍ کید و امکان نه و، هغه وچې فراموز د سمیع پلار له چک څخه د کابل چارد هي ته د محلي تبدیل وغوښت «د بنائي هلته به یې څه واسطه برابره کړې وه»، خو اتفاقاً د چک ولسوالۍ قاضي عبدالله خان د نوح د کربید ادو او سیدونکی د کابل چارد هي ولسوالۍ ته تبدیل شو، قاضي عبدالله په سمیع نو یې د اعدام حکم صادر کړ، فیصله د تمیز په عالی محکمه کې چه هغه وخت یې رئیس مولوي عبد البصیر و تغیر شوه او د اعدام حکم یې په (۱۲) کاله قید بدل شو او دکورنیو چارو په وزارت کې بند کړای شو چې وروسته د ثور فاجعې په دوهمه ورځ د ثور په اتمه نیټه له بند څخه خلاص او د مسلمانانو پر ضد یې مټې ونغښتې.

بله پلاد (۱۳۵۸) کال د اسد په میاشت کې یو ځل بیا یو تن مسلمان زده کوونکی آغا شرین او یو تن خلقي ترمنځ چې مومین لومیده په څه خبره شخړه ونښته دلیسې ټولو کمونستانو د یوه ترتیب شوي پلان له مخې پر مسلمانانو حمله وکړه، مولانا حبیب اله خان د الله اکبر په نارې د خلقیانو پر ضد د جنګ قوماندې ورکړه او د لیسې نږدې ټول زده کوونکي د محمد غه الله اکبر ناری په اثر د کمونستانو په مقابل کې ودریدل له څه اخر او ډ ی وروسته خلقیان وتښتیدل او د بمبائی په کلي کې د شهیدا حدی په کور کې په غوجل ننوتل او بیا یې واخسته دلیسې مدیر محمد ابراهیم یو یې بند و باره انسان و په یوه او بل چل یې د مسلمانانو

احساسات غلي کړل په دغه پېښه کې شپږ تنه زده کوونکي ورلونوا محمد، فضل الرحمٰن، عبدالجليل، محمد داؤد، محمد سميع او عبدالصمد، له لیسې څخه اخراج کړای شول، دغه وخت د پوهنې وزير نعمت الله پژواک وچي له اسلامي ضد گوندونو سره يې رابطه درلوده هغه يو کال وروسته په (۱۳۵۲) کال کې نوموړي له مکتبه شړل شوي خلگيان بيرته دوه تنه په سيد آباد ليسه کې دوه تنه د ننګرهار دوه تنه د جمعيت ميدان په ليسه کې شامل کړل.

نور محمد چې د ثور فاجعې په لومړيو وختو کې په بلغاريه کې د امين په باندې پوهنيو تړلي وه کله چې ترهکي د امين له خوا ووژل شو څوځلې د امين له خوا راوبلل شو چې په دولتي اداره کې ورسره شريک شي او س هغه د سرويرغلگرو غوښه په غوښه نوکر او په کابل کې دی.

د چک او د ايردادو مسلمان ولس د ثور له کودتا وړاندې له کفري ايزمونو سره په تضاد او مخالفت کې لويدلي دو د هغوی په شمو او ناروا غرضونو ترڅوی اندازې خبر وو چې يوازينی سبب يې د دغه سيمې د مبارزو روښانفکرانو او علماؤ کمونيستي ضد فعاليتونه ووچې مثالونه يې په مخکې ياد شول.

د چک اولسوالۍ او د ايردادو علاقه د ارغنخک په اسلامي عاداتو او عباداتو تر ډېرې اندازې پابند دي، شي حجاب پکې

مراعات کیږي، په غیر اسلامي چاپیریال کی يي هیڅکله هم د خپل ناموس بربنډ ولوته غاړه نه ده ایښې ځو ځلي د پخوانیو حکومتونو لخوا د نجونو د مکتبونو په با ب هڅې په سیمه کی د سیمې د مسلمانانو لخوا شنډې شوې. د خلق ضد کودتا څخه وروسته په اولسوالۍ کې په ویره زور او فشار یو د نجونو ښوونځی تاسیس شو چې د دوو دریو کلیو (۳۰) تنه نجونې پکې شاملې شوې او هغه هم د اسلامي پاڅون څخه وروسته دیو کال څخه پس بیرته وتړل شو د دې په ځای اوس د کلیو په جوماتونو کې د امامانو لخوا نجونو او هلکانو ته دیني ښوونه کیږي.

# د ثور فاجعه او په اولس کې د هغه اغېزې

دهیواد د نورو برخو په شان د ۱۳۵۷ ش کال د ثور د خونړۍ کودتا سره یو ځای د چک په اولسوالۍ او وایمرداد و علاقه دارۍ کې هم د وېرې او ماتم عام اعلان وشو سمدستي ځینې داسې بدلونونه په دولتي دستګاه کې رامنځ ته شول چې له یوې خوا یې خلک سخت په وېره کې واچول او له بلې خوا یې د مرتد رژیم پر خلاف د مسلمانانو په زړونو کې د کرکې او نفرت تخم وشینده ـ

د کودتا په دوهمه ورځ سمع د فرامون زوی چې د اسلامي ضد الفاظو په جرم په (۱۲) کاله بند محکوم شوی و او شپږ کاله بندي لا پاتې وه راخوشې او سمدستي یې له پراخه صلاحیتونو او واک سره د مسلمانانو پر ضد عمل پیل کړ ـ

علي مرجان چې د ثور له کودتا څخه مخکې د چک په اولسوالۍ کې عسکرو د پراخه اختیاراتو او امکاناتو سره د خپلو پخوانیو عقدو

تشولو بیا ، د میدان ته راووت -

اختر محمد د نور محمد شي ورور ، چي پخوا يې خپله ناولې څيره او مفکوره په سپينه لنګوټي پټه کړيوه په انقلابي روحيه !!! او انقلابي څېره !!! د « سور پتلون او سورکميس » کې د ثور انقلاب !!! د دفاع په مورچل کې ودريد حتی چې له کودتا نه مخکې د بمباڼې په ليسه کې معلم و ، سمدستي د نجونو د لوی تاسيس شوی ښوونځي سرښوونکی او د بمباڼې ليسې د سازمان منشي شو محمد سيد ښوونکی چې د اولسوالۍ له پخوانيو خلقيانو څخه وو د ليسې مدير او چک اولسوالۍ سرپرست وټاکل شو چې وروسته بيا په ليسه کې سر معلم او په اولسوالۍ کې د سازمان د منشي دندی ورو سپارل شوی -

د غنی کلي په کلي ور په ده او اولس په اولس د بې دينه -
خلقيانو بې حلبه او باشا نو ته د لنډ ټاپاچهي وار ورسيد ، حفوی هم چې څه له وسه کيدل د مسلمانانو په ټکولو ځورولو او وژلو يې صرفه ونه کړه ، حفوی چه کلونه کلونه د تدرات او صلاحيت په انتظار د مسلمانانو تر تهديد لاندې شپې تيرې کړې وې همدغه وخت ته نور ځانونه د د رست ملت او وطن وارثان بلل ، نو يې له حفه کسانو سره چې پخوا يې د اسلام د دفاع په مورچل کې د خلقيانو د پوچې مفکورې ترديد کړی و د کسات او

انتقام لاره وینوه له یلې خوا دد غه بدشامته کود تا له لوړی شپې څخه راپه دې خوا مسلمانان هم په دې وپوهېدل چې دعقیدې ناموس او وطن په حریم د غلو او داړه مارانو دا په ولویدو څکه نوځنې پېژندل شوی مشهور کسان پخواله دې چې دخلقیانو په خونړیو منګولو ولویږي د پیغمبرانو په سنت ,, هجرت،، قدم کېښود او دجهاد دسنګر راتړ وندې کولو په تمه لې د هجرت دیار ته څخه کړه څې نورچه دخلقیانو لاس ورباندې برتشو ونیول شول ، او دخځی پله د خونړی زندان په ونیو ککړ و زا موته وړتېل وهل شول چې دلته په لنډ ډول دځنو ورونړو د زنداني کیدو او هجرت په برخه کې جلا جلا خبری کوو۔

# د زندان په لور

لکه چې پخوا مو وویل خلقیانو کله کولای شول چې هغه څوک چې د دوی ناولې څېرې یې پېژندلې او د کړو وړو، مرام او شوم غرض څخه یې خبر وو ژوندي پرېږدي او بیا دوی په ملت کې خپل د زړه کارونه ترسره کړي، خاځایي یوځل باید له ځېلي ځحی تهول خندونه او د لارې اغزي لرې کوم چې د دوی د شومو هوسونو په وړاندې یې په سیځلې روحیه د عقیدې ناموس او وطن څخه ساتنه کوله له منځه لرې کړي وای او بیا په بې غمه زړه چې څه یې زړه غوارړي هغه وکړي لو یې دیوه منظم پروګرام او تیاکلي پلان په بنا د اسلامي تحریک په ځېلولاس پورې کړه د اسلامي تحریک نامتو غړي یې تر حدې یې ځارنې لاندې ونیول او د یوې مناسبې موکې په موندلو به یې حمله وربانډې کوله او د زندان په تورو کوټو نو به یې ننه ایستل ـ

د چک اولسوالۍ او علاقه دارۍ لومړني زنداني د اسلام څخه د دفاع په جرم د طاغوتي ځواکونو لخوا بند شوی شهید غلام حضرت «منیب»، د چک اولسوالۍ د نیک پایقول د ... ی د «محمود کلا»، کلي او سید ونکی دی، لومړی شهید د داؤد دی رژیم پر ضد د (۱۳۵۴) کال د نظامي عملیاتو څخه وروسته د زراعت له پوهنځي څخه لومړی

دهمزنګ اوه (۱۳۵۷) کال دخونړۍ کودتا ځخه وروسته د لوړو زده کړو پر مخ په شمول د څرخي پله خونړۍ زندان ته بوتلل شو چې د (۱۳۵۸) د جوزا په (۸) شپه له خپلو (۱۱۷) زندانيانو ورونو سره یوځای د شهادت په رنګينه جاده ورننوت —

د ثور د ناچې ځخه وروسته د چک د اولسوالۍ ځخه د زندان لومړنی ميلمه د اسلامی تحريک نامتو غړی جيبب الله «حقيار» دی چې د ثور له کودتا ځخه يوه اونۍ وروسته د زندان تورو کوټونو ته ولويد او وروسته يې بيا د شهادت لاره استقبال کړه.[۲]

وروسته بيا شهيد مولوی عبد الهادی «واحدی» دلي دينه - خلفيانو تر ستر ګو شو چې په سپينه بڼه د جوزا د مياشتې په (۲۳) مه د خير خانې له کوټې جومات ځخه بوتلل شو شهيد احدي دافغانستان

---

[۱]: - حبيب الله «حقيار» دکابل عربي دارالعلوم محصل او د اسلامي تحريک يو نامتو مبارز چې په زلميتوب کې يې د اسلامي تحريک په لاره کې بې مثاله او نه هيريدونکې خدمتونه تر سره کړي دي لومړی د ثور د مياشتې په (۱۵) په داسې حال کې چې د دارالعلوم ځخه رخصت شوی او په تيمور شاهي واټ کې د مرتد ترهيم انسان دښمنه بريځو لخوا ونيول شو او وروسته بيا د خپل ځوانۍ آرمان «شهادت» په ديار لي ورننوت —

[۲]: ځينې ورونه شهيد استاد محمد دين لومړی زنداني بولي او دعنه د نيولو نيسته د ثور ۱۰ مه بنيي.

له مبارزو علماؤ څخه وُ چې د اسلام په لاره کې یې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې او تل پاتې خدمتونه ترسره کړي دي. د شهید "احدي" له نیولو څخه څو ورځې وروسته د سرطان د میاشتې په لومړۍ لسیزه کې د کمونستي دایره مارانو لخوا د تحقیق او تعذیب په جریان کې د شهادت جام په سر واړاوه. له احدي څخه وروسته د دغه کورنۍ د دوهم مبارز غړي پیلوټ عبدالحق "احدي" چې په کندهار کې یې د ظیفه درلوده د جوزا په (۳۷) ونیول شو، پیلوټ عبدالحق شهید له دوو میاشتو او شلو ورځو بندیخانې څخه وروسته خلقي مرتدانو د یوه چل ول له پاره څو ورځې خوشې کړ. څرنګه چې له شهید پیلوټ سره هغوی د لنډو کسانو د پېژندنې او نیونې پلان درلود خو په دغه شوم هدف کې بریالي نه شول په ښکاره چا له پیلوټ شهید سره څه تماس ونه نیو ځکه هغه سخت د خلقیانو تر سخت تعقیب لاندې وُ.[ح۱]

---

ح۱:- لیکوال د مولانا محمد نظیر سره یوځای د پیلوټ شهید لیدو ته ورغلو او د شپې په نهو لسو بجو مو ور سره دیدن وشو هغه د اسې دېرو کسانو له هغه سره د شپې لیدل خو د خلقیانو له نظره پټ، په ښکاره چا ددې جرئت نه شو کولی چې له هغه سره وګوري څنګه و رونهو پیلوټ شهید ته د هجرت پیشنهاد وکړ هغه په ځواب کې د مولوي صاحب احدي شهید د بند په باب معذرت وغوښت او ویل که زه هجرت او کړم عکنی احدي په شهادت ورسوي خو احدي یې خوا په شهادت رسیدلی وو.

له اتوو، ځو آزادي څخه وروسته خلقیانو بیلوتهٔ دد وهم ځل لپاره
دبمباڼې په کلي کې ونیو او بیا یې ترننه پورې څه پته معلومه نه ده -

د سرطان په میاشت کې ډاکټر محمد کبیر چې د غه وخت توغې په فرقه کې عسکري دسیمې د خلقیانو له خواڅه حملة ورپسې ورغلي د کو ونیول شو ، هغه چې د اسلامي تحریک یو فعال ځوان وو په هغه لومړي وختو کې د کمونستي مرتدانو لخوا د شهادت مقام ته ورسید -

استاد محمدین شهید چې په ننګرهار دارالمعلمین کې استاد او د اسلامي نهضت یو پیاوړی او پوه غړی وُچې د ننګرهار په دارالمعلمین کې بې شمیره زلیان له عقیدې څخه ددفاع په موړچل کې ودرول په همدغه څای کې د خلقیانو له کودتا څخه وروسته ونیول شو او دجلال آباد په مجبس کې د تحقیق په جریان کې په شهادت ورسول شو -

مدیر محمد ولي شهید د وردګو ولایت د اسلامي تحریک هغه لومیالي چې د پر پسې ازمینتونو او اسلام د ښمنه لنده غرو لخوا د ډیرو تکلیفونو او تعذیبونو څخه وروسته چې په (۱۳۶۲ع) کال کې ذیلحجې په وژنتون کې د شهادت لارهٔ استقبال کړي مدیر محمد ولي شهید لومړی ځل دخلقیانو له کودتا څخه وروسته په هغه کال کې ونیول شو خو له شپږ میاشتې بند څخه وروسته بیرته خوشې شو لومړی یا شهید اسلامي تحریک ته په مرکزي حوزه کې تیا تې حماسې او کارنا مې د

مبارز نسل لپاره د یادګار په توګه پریښودي د دغه شهید کارنامې ځانګړي کتابونه غواړي او مونږ ورته لیوازي د خدای ج له لوړ دربار څخه د لوړو درجو په دعا د لته بسنه کوو. د یادولو وړ ده چې همدغه شهید ورور د لوړو ورونو په ملګرتیا د چک اولسوالی د اسلامي پاڅون په برخه کې هم نبغ لاس درلود او خصوصاً د عربانو د رړې ټول فعالیتونه د هغه لخوا تنظیمید ل، شهید مدیر محمد ولي د ورورستي ځل لپاره په (۱۳۵۹) کال کی بیا ونیول شو، پوره پنځه کاله هغه د کاجي لي د امه مارانو تر غیرانساني شکنجو لاندې شپې ورځې تیرې کړې د همدغه تعذیبونو په لړکې ئې دواړه لاسونه او یوه پښه ماته شوه په سپینه ږیره ئې د بې دینه ځوړو رکوونکو ټول ځورونه او ربړونه وګالل خو د اسلام په مینه ډک زړه د یې د پیو سپیڅلو ارزونو او ارمانونو سره یو ځای د ابدي ژوندون په بڼ ورننوت -

د (۱۳۵۷) کال د سرطان د میاشتې په (۱۲) نیټه استاد محمد داود چې د ساینس په پوهنځي کې د دریم کال محصل و د وحصم برید من محمد معین شهید محمد یوسف او ډاکټر الوزمه څلورواړه د کاجي لي د تالي څخه لخوا ونیول شول چې د ډاکټر برېتنور د سرطان په (۲۸) مه نیټه له څه تحقیق او تکلیف وروسته بیرته خوشي شول خو مورده وروسته محمد داود د غیرتي خلقیانو د پرلسې تعقیب په وجه پوهنځي پریښود په

داخلي هجرت مجبور شو او ځان یې له حکومتي دستګاه څخه ګوښه کړ.
محمد معین شهید او محمد یوسف شهید چې دواړه د اسلامي تحریک فعال
غړي وو د دوه هم ځل پیاړه ونیول شول او دځرخي پله د پولي ګونې په
کوټې کې دابدیت په لوري ولاړل د اکتوالوزي په (۵۸) کال کې ځان
چک ته ورساوه "هغه وخت په چک ولسوالۍ کې پاڅون بریالی شوی و"
او له هغه نه وروسته لوموړی پیښور ته ولاړ -

د (۵۷) کال د حوت د میاشتې په (۱۶) مه نیټه صفت الله اخوند
زاده د شرعیاتو پوهنځي محصل د حکومت له خوا زنداني او په غالب
ګومان په شهادت رسیدلی دی -

د همدغه میاشتې په (۲۸) مه نیټه ملا سید جمال الدین آغا
د خلقي ضد حکومت لخوا ونیول شو او ترننه یې پته نشته ، سید جمال
الدین آغا هم د اسلامي تحریک له ډیرو پیاوړو ځوانانو څخه و -

د (۱۳۵۷) کال د حوت په میاشت کې د شهید احدي د کورني د مایم
او خلورم غړي استاد فضل الهي شهید د ساینس پوهنځي محصل
د پیلوټ عبدالحق زوی او محمد نصیر احدي د بمبایي لیسې ښاغ
د محمد منیر آخوندزاده زوی هم په خپل کلي (بمبایي) کې د خلقي
جاسوسانو لخوا ونیول شول او ترننه یې بیاخوک له حالته دي خبر
شوي له محمد نصیر سره معلم (غلام دن ویشي شهید) هم له پاکستان

ثخه د څنو جهادي فعالیتونو لپاره راغلي وه څخه هم د بې دینه خلقیانو له خوا بندي او وروسته په شهادت ورسید ـ

مبارز عالم او دروند شخصیت مولوي خاندوران شهید چې د (۱۳۵۷) کال د حوت په میاشت کې د حکومتي لنډه غرو لخوا لومړی ولسوالۍ او وروسته بیا د څرخي پله خونړي زندان ته یوړل شو شهید مولوي خاندوران د فاسدو حکومتونو پر خلاف د جهاد او مبارزې جنډه تل اوچته ساتلې وه او د سکوت او سازش له نا مردانه عادتونو څخه یې ډیر واټن درلود د همغه وینبې ضمیر او توپاني احساساتو خلقیان د غه ستر جنایت ته وهڅول تر څو چه همغه لومړی بندي او وروسته بیا د شهیدانو له مقدس کاروان سره یو ځای کړای شو ـ

سپین ږیری عالم « خلیفه عبدالرحیم » چې نږدې د (۷۰) کالو په عمر کې د (۵۷) کال د لړم د میاشتې په لسم لومړی د جیل تورو خونو او وروسته د شهادت سره ډګر ته ورتیل وهل شو ـ

غوث الدین د ابنو خاک اوسیدونکی د زراعت پوهنځۍ د دریم کال محصل د (۵۷) کال په سرطان کې بندی او تر ننه نې درکه دی ـ

محمد سالم د ابنو خاک اوسیدونکی چې په میرویس میدان کې دوکاندار وو له (۵۷) څخه تر ننه د خلقي ضد رژیم د اجیره مارانو لخوا ورک

شوی دی ۔

ډاکتر عبدالفتاح او ډاکتر احمد ضیا د چک د کلی د غلام دستگیر زامن د طب پوهنځي د دریم کال لحصیلین هم په (۵۷) کال په یوه ورځ د زړه کږي له چوکی څخه د زندان وژنتون ته ورتیل وهل شول چي په غالب گمان ئې د شهادت خوانه شربت څښلي دي ۔

آمرخاندوران د خلیلی او سید ونکی یو مخلص او مبارز شخصیت وچي په (۵۷) کال کی ئې د زندان لاره ونیولی او ترننه ئې څوک بیا له حاله نه دی خبر شوی ۔

انجینر سید مقصود هم چي د تخنیک ثانوی په لیسه کی استاد و په (۱۳۵۸) کال کی د خلقی ضد رژیم د زندان په توروگوتونو کی ورننه وت او ترننه ئې بیا د مرگ او ژوند څه پته نشته

قاضی سید احمد شاه چي په (۱۳۵۷) کې بندی او د (۱۳۵۸) کال په ژمي کې له ډیرو دېرو او زحمتونو څخه وروسته بیرته خوشی شو ۔

غلام علی دانبو خاک او سید ونکی د خلقیانو په لومړیو شپږو ورځو کښې بندي شو او له شپږ میاشتی بند څخه وروسته په ژمي کې بیرته خوشی شو ۔

معلم جبیب الرحمن د دارالعلوم فارغ التحصیل د (۱۳۵۷) کال په وروستیو شپږو ورځو کې بندي او له دوو میاشتو وروسته بیرته

خوشي شو.

محمد حميد آخوند زاده چې د ميارن واو وينيو علماؤ په ډله کې وُ د (۱۳۵۸) کال په ثور کې دکمونستي وژونکو په لاس تر زندان وروسته دحق په لار کې د شهادت رنګينه لاره په خپلو سپېڅلو وينو لا رنګينه کړه

د ۱۳۵۸ کال دوره ی دمياشتې په دوهمه نيټه محمد فاضل آخوند زاده د دارلعلوم محصل په کابل کې د طاغوتي رژيم د لخوا بند يې او تر ننه يې بيا پته څرګنده نه شوه.

د ۵۸ کال دوره ی د مياشتې په وروستو شپو ورځو کې د زراعت پوهنځي د دريم کال محصل زلمی د خلقي جاسوسانو لخوا زندانی او په غالب ګمان وروسته په شهادت رسيدلی دی

زلمی د بمبائي کليې له لومړيو تحريکي ځوانانو له ډلې څخه وُچې په دغه لاره کې يې ډيرې هلې ځلې کړې دي د چک اولسوالۍ له لومړي حملې څخه وروسته دجوزا په (۲۲) مه نيټه ملک عبدالرؤف اوګلاب دين د محمد يار خيلو او جلات د علي همت کلي او سيدونکي خلقيانو ونيول او په غالب ګمان يې په شهادت ورسول ، همدارنګه معلم محمد نواب او رودي ګل د خليلي او بمبائي او سيدونکي هم دغه وخت ونيول او وروسته شهيدان شول.

د ۱۳۵۸ کال په لوسرکه وروځ انسان دښمنه خلقيانو دخپل وحشي خصلت له مخې د غه کسان ونيول او د زندان په لورې کش کړل:

مولانا صاحب حبیب الله د غني خیلو کلي اوسیدونکی
ملک محمد موسیٰ مرحوم د بیلسمند اوسیدونکی
ملک عبدالرؤف د محمد یار خیلو کلي اوسیدونکی
ملک ( . . . ) د عبدالشکور آخوندزاده ورور د بیانا نوا وسیدونکی
ملک محمد اسلم د گردن مسجد د قادر خیلو کلي اوسیدونکی .
او ملک محمد شریف د سیاب اوسیدونکی .

پورتنی کسان یې په یوه ورځ ونیول خود خدای په فضل څو ورځې او
څو ورځې وروسته ټول بیرته خوشي شول .

د ۵۸ کال په حمل کې د علی همت کلي اوسیدونکی معلم گلاب الدین د قادري بس -
له نمایندگی تحفه بوتلل شو او تر ننه پورې بیا څوک په حال نه دی خبر شوي
ملا فضل الباري د علیشې د ملي خیلو د کلي اوسیدونکی چې کلک مبارز او
پخوانی تحریکي و د ۵۷ کال په پای کې کمونستي لنړه غرو زندانی کړ
چې وروسته بیا د الله په لار کې په خپلو وینو ولمبول شو .

د ۵۸ کال په لومړیو شپو ورځو کی د خواجه انگور
عدیا کلي د یوې کورنی پینځه تنه د څو شپو په موده کی
ونیول شول ، حاجی گل دین عادیار ، مامور ضیاء الدین او معلم
مصباح الدین د هغه دوه زامن ، مامور عنایت الله د همدغه
کورنی بل غړی او حیگرن محمد الدین خان دد غه کورنی پنځم کس
چې زندان ته ورتیل وهل شول ، وروسته بیا حاجی گل دین

"عادلیاره چې هغه وخت په پوهنتون کې د خدماتو مدیر و، معلم مصباح الدین او مامور عنایت الله بیرته خوشې شول ،
ځګرن محمد الدین خان او مامور ضیاءالدین د زندان په تورو ګوتو نوکې ورک شول داسې چې ترننه یې بیا پته ونه لګیده "

حفیظ الله خان د حاجي شراف الدین زوی د ضیاء الدین مامور سره یوځای نیول شوی او تر ننه پورې یې درکه دی،

ځګرن الف نورخان د شهباز خان کلی اوسید ونکی د ۵۷ کال د حوت په اتلسم د طاغوتي رژیم د پړچولخوا زنداني او ترننه پورې بې پتې دی په غالب ګمان د شهیدانو په ملیوني کاروان ورګډ شوی دی ـ

رحیم الله د محمد غه کلي اوسید ونکی د دارالعلوم محصل هم له مامور ضیاءالدین سره یوځای بندي او ترننه پورې د ورکو په کتار کې دی ـ

دغه کسان د اولسوالۍ په ساحه کې تر اسلامي پاڅون (د (۵۸) کال د جوزا تر (۱۵) نیټې پورې) زنداني او په شهادت رسیدلي دي د علاقه دارۍ په ساحه کې هم د مسلمانانو په غوږونو کې د کفر او الحاد دخطر زنګونه کې نګیدل او د دغه سیمې مسلمانو بچیانو هم پرلسې د

زندان او شهادت لاهٔ بنیه بد ۲ گه کړه چې د څنو کسانو په باب یې په لاندې کرښو کې یادونه کوو:

معلم محمد ولي خان د ۵۷ کال د قوس په میاشت کې بند یې او له دوو میاشتو وروسته بیرته خوشې شو ظابط عبدالقیوم خان د دولتشي کلي او سیدونکی په ۵۷ کال د خلقي جاسوسانو لخوا په کابل کې ونیول شو او بیا یې ترننه څوک له حاله خبر نه شول ـ

ډاکتر خان و زیر د همدغه کلي اوسیدونکی د ننگرهار د طب پوهنځي محصل د ۵۷ کال په ژمي کې له پوهنځي څخه د زندان کوټو ته ورتیل وهل شو چې ترننه یې بیاد مرگ او ژوند څخه پته په لاس کې نشته ـ

ظابط میرمرجان د "۵۷" په دوبي کې د کاجي یي مزدورانو په لاس د زندان میلمه شو او ترننه یې بیا څوک له حاله خبر نه دي په غالب گمان به د شهادت په سرهٔ پالنگ په ابدي خوب ویده شوی وي ـ

انجینر محمد نواب د احمد خیلو کلی او سیدونکی د کابل له صنایع لیسې څخه د خرخیپله د زندان په لوري بوتلل شو او وروسته بیا د شهیدانو په تهولی ورگډ شو ـ

معلم گلوجان د گلي اوسیدونکی د ۵۸ کال د حمل میاشتې په دوهمه نیټه د خلق ضد رژیم لخوا بند ي او ترننه پورې یې درک

نشته، همدا رنګه د هغه بل ورور سید آقا په ۵۷ کال کې بندي او د ۵۸ کال په ثور کې بېرته خوشې شو-

عبدالرؤف خان د شاه قدم او سید ونکی د ۵۸ کال د ثور میاشتې په لومړیو شپو ورځو کې ونیول شو چې په غالب ګمان د شهادت په رنګین او ویاړلي کاروان ورګډ شوي دي علاوه پر دې ممکن لوړ زندانې ورونه وي چې ما ته یې لوموړنه په لاس نه دي راغلي او دوی به لومړي د زندان او ورپسې د شهادت په رنګینه لاره قدم ایښی وي، همدارنګه د چک او ډلېمرداد دسیمو ځینې نور مبارز کسان له ۵۸ کال څخه ترننه زندانې او یا شهیدان شوي دي چې د دغه پېښو د تسلسل په اعتبار به د هغه کلونو د پېښو په کتار کې راوړل شي د زندانیانو یوه ډله د ۵۷ کال د ثور له فاجعې څخه د (۵۸) تر جوزا پورې زنداني شوي کسان وو، د یادولو وړ ده چې د دغه کسان د سیمې له ځینو شاه زلمو څخه وو چې په هجران کې د سیمې والو زړونه تر عمره داغدار شول- د ۵۸ کال د ثور په میاشت کې د خلقیانو ناروا وې او ظلمونه بالکل اوج ته ورسیدل په دې سته سیمه د وحشت تور تیغ غوړېدلی و، نور د سیمې یو وګړي هم چې په زړه کې یې له اسلام سره مینه ځای نیولی و ځان په ژړندیو کې نه بالله

په پرلېسې فرمانونو سره اسلام ضد رژیم د خلقو آزادي بلکل محدود کړه، په کلیو کې ئې د دفاع کیټیې جوړې کړې او د شپې ئې په ټولو خلقو پیرې او گزمې پیل کړې خلقیان او د اولسوالۍ او علاقه دارۍ مسئولین به په جیپ موټرو کې د شپې د گزمو په نامه په سیمه کې گرځیدل، که به په کوم کلي کې پیره نه وه ولاړه صباته به ئې انقلابي چلن ورسره کاوه نو نږه نانړه به خلق په هر کلي کې ترسهاره ویښ پراته وو ــ خلقیانو ته د ورځې مارشونه او د شپې پیرې او گزمې وسپاتې وې اونور اولس حصله ناکامه د کارگرو او کرگرو د غم خورو دغه اقتصادي پروگرامونه!!! ورسره بدرگه کول خلقیانو د شپې له گزمو څخه د مسلمانانو د نیولو دپاره هم موکه په لاس ورورې وه او د تیارو دلیوانو به اخیر به ئې یوه شپه په یوه کلي اوبله په بل کې داړه اچوله وه او له سیمې نه به ئې بیایو مسلمان او د اولس ریښتینې غم خوړ د زندان گوټونو ته ورتمبل وهلی وو خلقیانو د څه دپاسه یوکال په موده کې د اولسوالۍ او علاقه دارۍ نه د ۶۰ تنه په اسلام مین عالمان روښانفکران او د اولس په درد درد من کسان د زندان خوښیونو ته ورسول چې زیاتره شهیدان شول، په دې ورځ چې چاته څه سترگې ورته او نښتې یا

د زندان میلمانه شول او یائي د هجرت ۱۳۷۸ ه ونیوه او س به د هجرت په لسو ری رنا واچوو وګورو چه د کمونیستي ګوډاګیانو له — خونړیو پنجو څخه ځانونه وژغورلای شوای ؟ !!

# د هجرت لاره

د ثور له فاجعې وروسته لکه څنګه چه د زندان دروازې د مسلمانو شاګردانو په مخ بېرته شوې همدا رنګه د هجرت لاره هم له لاروېو ډکه او اوبدلې شوه مبارزینو رونه ټول څېر شوې وو چې د خطر له احساس سره سم به یې د هجرت لاره ونیوه د اسلامي تحریک لخوا هم ځنې کسان ګومارل شوي وو چې تر تعقیب لاندې کسان به یې راغونډول او له پوله به یې اخوا ور اړول.

د چک اولسوالۍ او د ایبرداوو علاقه دارۍ لومړني مهاجرین چې د کفر او ستم له منګولو څخه یې ځانونه وژغورل. زمرک "دیاسر" او محمد نعیم "بلال" وو، هغوی د داوُدي رژیم د وهم کال په اولو ورځو شپو کې په (۱۳۵۳) کال هجرت ته اړ او د دوایره لومړی پاکستان او وروسته عربستان ته ولاړل د مدینې منورې په پوهنتون کې یې خپل تحصیلات مکمل کړل او په (۱۳۵۷) کال له خلقي ضد کودتا[1] څخه وروسته په پاکستان کې د اسلامي تحریک سره بېرته یوځای شول.

د ثور له کودتا څخه وروسته تر ټولو لومړی ډاکتر محمد هاشم "ډاکتر محمد خان" له څارنوال نقیب الله سره هجرت وکړ وروسته بیا نور ورو ورو چې په لاندې کرښو کې یې په لنډ ډول یادونه

---

[1] یعنې د خلکو او پرګنو ضد کودتا.

کېن ي د هجرت ۱۳۵۸ وینوه البته د هجرت نیټه ئې په نظر کې نه ده نیول شوې ـ

انجنیر آغا شیرین او انجنیر عبدالولي په یوه نیټه له پوهنځیو ځخه گوښه او بیا په هجرت مجبور شول عبدالقدوس او د ځنځه کشر ورور «زهیر» له آغا شیرین ځخه وروسته د هجرت ۱۳۵۸ وینوه قاضي علم گل «مالک» هم د ۱۳۵۷ په کال په مني کې د هجرت په کولو بریالي شوی ؤ ...

بهرام او وارث په یوه نیټه کور کلي او وطن ته شاکړه او دوغ وتل ـ

مولوي عبدالشکور، مولوي نصیرالدین، قاضي بشیر «حمت»، مولوي محمد شیرین شجاعت، استاد فضل الربي «احدی»، محمد نصیر «احدی»، معلم «غلام درویش»، برهان الله «اکبر» قاضي لعل محمد، محمد امین ماما، ذبیح الله د ډاکتر محمد خان ورور ـ مولوي عبدالصمد زلمی، قاضي حضرت گل «رکن اروال»، ډاکتر محمد قاسم ـ «مقصودي» حاجي عبدالله، مولوي محمد ظاهر جان آخوندزاده، مولوي محمد رسول، ملا عبدالقادر «شهامت»، مولوي «منگل»، حضرت شاه، انجنیر احمد فرید، سخیداد «فایز»، قاضي محمد حسن «عرفانیار»، قاضي «فضیل»، حاجي توراگل کوثر، مولوي محمد پذیر

او ملنګ د حقه زوی، محمد نذیر د «معین»، مولوي عبد الصبور، مولوي شهزاده، عبد الله د «د زراعت پوهنځي محصل»، ضابط محمد حنیف «باطن»، معلم بسم الله ... ١

او ځنی نور کسان چې زه ئې په نومونو نه یم سر یالی شوی څوک دړاندي او څوک وروسته یو پر بل پسې مهاجر شول او په کلک ایمان ئې بیرته د جهاد په پیاوړتیا کې برخه واخسته.

ډاکټر غلام حضرت د «زړغون» چې پاکستان ته په هجرت بریالی نه شو او خلقیانو تر سخت تعقیب لاندې نیولی ؤ وروسته ایران ته هجرت وکړ ... همدا رنګه ځیني ورونه د هجرت ته ولاړ نه شول خو په سیمه کې ئې کله یو او کله بل ځای له حکومت نه ځانونه ګوښه کړي وو، او په داخل کې ئې هجرتونه کړي وو، چې د هغوله جملې څخه مدیر عبد الشیار، استاد محمد داوود «غیرت»، استاد امین الله «وحدت»، مولوي غلام محی الدین، مولوي محمد کریم شهید، شهید عبد الجمیل آغا، ملا جمال الدین چې په ملا جمال ګل سره مشهور ؤ.

---

١ لیکوال هم د ١٣٥٧ کال د سنبلې په ١٨ مه د دین او وطن د نه پخولاکیدونکو دښمنانو د پې کړې تعقیب په وجه د ځینو ورونو په مشوره د هجرت لاره ونیوه او د خدای ج په لارکې ئې د هجرت ستړی ویاړ په برخه شو. «و الحمد الله».

او ځنې لوز درونه یاد ولاړ شو -

دخلقي ضد رژیم ناروا وې زموږ د مومنو هیواد والو پر خلاف ورځ په ورځ پراخه کیدې او د وحشت نوې نوې طریقې ئې د ولس دځورولو لپاره پکار اچولې د مؤمنو شازلمو د تکولو او ربړولو ځورونکي نور ژیکه د دوامه دوانه د خلق او پرچم بې جلیه کاپې د خپلو شیطاني هوسونو د سوته رسولو لپاره د ژوند د رست نظم گډوډ کړې دي هغوئ روحئ ژوند یوازې د خپلو واکمنو او حکمرانیو د چلولو او ټینگولو لپاره تنظیم کړې دي نه ئې د ولس وږې گیډې ته پام دي او نه لوڅ بدن ته، کارگر او بزگر یوازې په کورکاپي ډوډۍ شعارپاید کفایت کړي وای چې له سهاره تر ماښامه به ئې په جبري مارشونو کې خولي وړباندې وچې کړې -

په اوني کې خاطا دوه دری داسې مارشونه پیدا کیدل چې د کارکسب نه به خلک وړباندې وتلي دي - او مجبور ودچې د انقلاب زنده باد !!........ ..مرگ پر امپریالیزم ..... فرمایښتي چیغې ووهي او بیا ملحد رژیم واک او صلاحیت د مسلمانانو تر ځورولو او تکولو پورې اړوند کړ، چاچې د دې شیطاني کوله او په ډیروپسې به ئې دوا او ناروا تورونه وګول په همغه اندازه ئې اعتبار او صلاحیت زیاتیده له هدې امله د قدرت لیوني او په

اخلاقي فسادونو ککړ کسان ورو ورو د خلقي انقلاب ! ! اداري متن ته ورزيات او د مبارزو حق پالو او وطن دوستو خلقو څخه د زندان او هجران په لور زياته شوه چې ورو ورو د سيمې او ولس نور د خلقي داپره مارانو له ظلم او ستم څخه د خلاصون پياړه د يره سرتاسري پاڅون د ه شل ته ورننوتې کيده -

# د خلقي ضد کودتا تر دوهم کال پورې

لوی خدای ج مسلمانانو ته د ډاډ ارتسل په دود په خپل مؤجز کلام کې فرمایلي چې له هرې ستونځې او سختۍ وروسته دوې آسانۍ شته نو ښېن مؤمن ولس هم په دغه تمه د الهي رحمت په انتظار شپې سبا کولې پوره یو کال ئې د بې دینه خلقیانو هر راز شکنجې رېړنه او تهدیدونه وزغمل خو په دې د هر مسلمان وګړي پوخ باور و چې خدای ج به دغه تیارې روښانه کړي او د ظلم او ستم شپې ورځې به تېرېږي د ۵۸ کال په لومړیو کې ددرو وردوچک اولسوالۍ او د ایمرداو علاقه له مؤمنو بچیانو ځخه د روسي مزدورانو پروسېن کلنی سام او هیبت ورک شو، او په خپل پخوانی باور ئې چې خامخا — به د کفر او ظلم بنیاد رانسکورېږي او د اسلام په حکمه به د اسلام قانون جاري کیږي لا باوري او ډاډه شول ـ او یوازینی سبب ئې د مسلمانانو په دلته هلته، پاڅون او جهادي لیکو پیاوړتیا وه —

همسې خو د ثور له کرغېړنې کودتا ځخه دوې شپې وروسته د ثور په (۹) نېټه د پکتیا په مېړنو زیږونکو سیمو د „زېروک،، په - اولسوالۍ کې د جهاد جنډه پورته او بیا ترننه همغسې پورته

وساتل شوه او بیا په همغه کال کې د خدرانو، منگلو او ځاځیو په سیمو کې بیا ورې کفر ماتوونکي سنگرونه جوړ شول په همغه لومړني کال د کونړ، لغمان، ننگرهار، هرات او کندهار په ولایتونو کې اسلامي پاڅونونه وشول چې لمنې ئې ورو ورو پراخې او د ۱۳۵۷ کال په وروستیو او ۵۸ کال په لومړیو شپو ورځو کې زمونږ د غیرتي او مؤمن اولس جهاد افغانستان شمول شو او خبره میدان ته راووته، د لوگر د شهید پالوزلیو اسلامي پاڅون د هرات اتلوال پاڅون د دره صوف، بامیانو او ..... پاڅونونه ددې سبب شول چې آن د سوسیال امپریالزم پرزه، نور او تنزویر سنبال مغزونه واکداران ئې هم ولړزول د هیوا د په گوټ گوټ کې د شهید پالو سنگرونو نه د تکبیر چیغو زمونږ هیواد وال د دین او وطن په ننگ اسلامي سرتاسري پاڅون ته راپارول او بلل.

د چک اولسوالۍ او د ایمرداد و علاقه دارۍ مسلمان او غیرتي ولس هم وار و وار د اسلامي پاڅون له پاره ځانونه چمتو کړل د خلکو ترمنځ لیدنې کتنې او راز او نیاز ورو ورو زیاتیده که څه هم خلقیانو په اولس کې د نا باورۍ او بدگومانۍ فضا رامنځته کړې وه تر دې چې پلار او زوی به یو بل ته د زړه راز نه شو ویلی خلقیانو تبلیغات کړي وو چې د سیمې له درې تنو څخه

يو دولت جاسوس دی په دې ډول د بېر خلق يو پر بل بدګمانه وو ، خو دروسانو بيا د غه فضا د مبارزو ځوانو کونو لخوا بېرته په يو پر بل اعتماد او باور بدله شوه ـ خلکو ورو ورو د پلار نيکه په زړو تورو او ټوپکو لاس ونه وهل او په اولس کې د يوه د رغنده اسلامي پاڅون ساه چليده د هجرت له مرکز « پېښور » ځخه هم له سيمې سره اړيکې ټينګې وې او وخت په وخت به ئې د حالاتو په باب يوې او بلې خواته هدايت او معلومات ورکاوه ، که څه هم د چک اولسوالۍ او د ايمرد اود علاقه دا ډکه خلک په عمومي ډول لې وسلې وو له بلې خوا څخه د غه سيمې د کابل په (٤٠) کيلو متری واټن کې پرتې دې لځکه ئې وسله وال قيام ته زړه نه شوسنه کولی ګني د خلقي ضد رژيم په وړاندې ئې له پخوانه د کرکې او نفرت اور په شغلو ؤ د ۵۸ کال په ثور بياشت کې د بې دينه خلقيانو سپينې سترګې او بې شرمي نور هم زور ونيو ، تردی چې د شپې له خوا ئې د کورونو د روازې بندول او د سپيانو ساتل له خلقي انقلاب څخه سرغړونه !!! بلله ترڅو دوی د شپې لخوا آزادانه وکولای شي خپل ترنظر لاندی کسان بنديان او يا نور خپل شوم غرضونه ترسره کړای شي ـ خو د خدای ج په فضل ئې د واکدارئ شپې ورلنډې شوې او خپلې سپېرې هيلې ئې د بېر وګورته ورسره يو وړې ـــ

# د تره کي
# کرغېړن رژيم ناکامه دسيسه

د زاړه انګرېزي ښکېلاک د ښکېلاکي هيلو د ترسره کولو لپاره خو "بېل يې کړه او واکمني پرې کوه" عمليه د بري کونجي وه خو نوي روسي ښکېلاک چې د زړو ښکېلاکي دسيسو سره په نويو نويو چلونو هم سنبال دی او ښکېلاکي ټولو طريقو ته يې د وخت د تقاضو سره يو ځای تکامل ورکړی د انګرېزي استعمار نوموړي تګ لاره يې داسې انکشاف ورکړ "ملتونه په قومونو او قومونه په قبيلو وويشه او بيا يې سره يې د نفاق په اور کې له منځه يوسه"، د همدی اصل له مخې يې زمونږ په هيواد کې د ګوډاګي تره کي په واسطه همدغه دسيسه په کار واچوله د پښتو، فارسي ژبي، ازبک، بلوچ ----- په نوم يې ژبنيو او قومي اختلافاتو ته يې پر مختګ ورکړ او غوښتل يې زمونږ واحد مسلمان او

میرنی ولس په خپل منځي کشمکش او جنجال کې واچوي او دوی د نفاق په د غه خرڅ اوبو کې خپل ماهیان ونیسي اولس به یو د بل پر خلاف تو پک اونیزې ته کړي او دوی به د و د کا په ننداره کې خپل خوبونه غورړوي ـ

په ولس کې ناپوهي او بې علمي ، او د پخوانیو حکومتونو بې کفایتي چې اولس ئې له سیاست او حقیقي ( ( ژوند ) ) څخه بې برخې او لرې ساتلی و ، نن دې ته چې د خلقیانو د غه انساني ضد کړنلاره عملي شي او زمونږ ملت یو د بل په غوښو اخته شي چې د خوست ، څاځیو ، شینوارو او پغمان د ولس وسله وال کیدل او د لرو هیواد والو پر خلاف ئې د خلقي ضد رژیم په پلوه د وسلې استعمال زمونږ د ادعا ثبوت دی چې وروسته بیا د غه سیسه د چک اولسوالۍ او د ایبرداد و علاقه داری ـ مومنو بچیانو د اسې شنده کړه چې اغیزې ئې آن د وسله والو قومونو ترچا پیریال پورې ورسیدې ـ

د همد غه اولسوالۍ او علاقه دارۍ مسلمان اولس اتلواله قیام وکړي یوې خوا ئې بې دینه خلقیان زمونږ پردرست مسلمان ملت بد گمانه کړل او له بلې خوا ئې د اسې تاریخي دول ولوباوه چې د ملتونو د مبارزې په تاریخ کې به په زرینو کرښو لیک وي ـ هغوی چې له دښمن څخه وسلې واخستې او بیرته ئې خولې پر دښمن ور واړولې

که خدای نه کړه دخلقي ضد رژیم دغه خطرناکه دسیسه ناکامه شوې نه وای د چک اولسوالی او د ایبرداو علاقه دارۍ خلک دهزاره ورونو سره په جګړه کیوتلي وای، په دې ډول د لوړو ځایونو کې هم د بې دینه رژیم د دغې دسیسې دعملي کیدو امکان وو او نتیجه داچې ولس به بیخپله له خپل منحط قرآني نظام او آزادي ایستلې وه «رخودکرده را تیمارونیست» بیا به د اسلامي افغانستان نوم د نړۍ په نقشه کې چا نه پیژانده او د هندوکش په سردرو کې ډکرملن دسرحد ارانو په خوینه د لوړو اسلامي هیوادونو د لاندې کولو لپاره سنګر نه جوړیدل

مطلب داچې مرتد رژیم د هزاره او وردګو ورونو له یو بل سره جنګول غوښتل او په همدې منظور ئې په سیمه کې لومړی د هزاره ورونو پرخلاف رنګارنګ ډنډورې او پروپاګندې خورې کړې چې ګواکې هزاره ګان یاغي شوي، غواړي په وردګو یرغل راوړي او مالونه ئې لوټ او خلک ئې ووژني، هزاره ګان دخپني سره د افغانستان یو ځای کول غواړي هغوی دسنیانو قدرات نه مني !!! په دې ډول ئې غوښتل د وردګو د خلکو ذهنیت د هزاره وسره خراب کړي، له څه مودې دغه پروپاګند ځنې ورروسته ئې دغه آوازه پیدې وه غبرګه کړه چې که د وردګو ولس غواړي حکومت به دخان او اولس ددفاع لپاره وسلې او کارتوس ورکړي، او آخر ئې د وردګو په

اولس کی له هزاره ګوسره د جګړې په باب دریځ ترډې پورې راورسید
چې سرئې د حکومت او مال ئې د رعیت، د خدای ج. رحم ځحکومت کوم
او پوند شو بلیه دې چې کوم اغیز من تدبیر وسنجوي یوځل ئې د
وردګو میړني اولس ته د ښځو زرو په شا وخواکې ټوپک او پوره
مهمات ورکړل هغوئ هم لوړه دخپل اسلامي مسئولیت د رفع کولو
په خاطر د اسلام د دفاع موږچل ته ورانګل او د ملت په پیسو رانیول
شوې وسله ئې د مسلمان ملت د دفاع په لاره کې په کار واچوله او په
دې ډول ئې د اسلام د ښمنه خلقیانو پر ناروا تمو او امیدونو
خاورې ور واړولی.

د ټوپکو ورکولو څخه پخوا ملحد دولت د ثور میاشتې
په ۲۰ ، یو دری کسیز هیئت د محمد غوث حکیمی "پوهنیا" په
وزارت کې د پلان رئیس» په مشرۍ د چک اولسوالۍ او د امیرداد و
علاقه دارۍ ته ولاستاوه او د غه هیئت له اولس څخه د کاغذ
پرمخ ، سمًا د ټوپکو د وېشلو په باب نظر وغوښت، د اولس
لخوا د مثبت ځواب ورکولو وروسته د غه هیئت لومړی
ولایت او بیا د کورنیو چارو ته ور وزارت پورې ورسید او
په خوښۍ یې د وردګو ټوپکوا خستو ته چمتو والی حکومتي
نورو مقاماتو ته شرح کړچې پوره تفصیل به یې وروسته

راشي، لنډه دا چې د وردگو په ولایت کې د تره کي رژیم بربنډو
په زرگونو میله وسله وویشله او د وردگو مسلمان اولس
یې عملاً له هزاره وروڼو سره د جنگ جگړې او ورور وژنې په
دره شل کې ودراوه، په دغه مختصره معامله کې هم د وردگو اولس
او هم مرتد رژیم ځان د لویې گټونکې باله خو وگورو چې ارزښتنې
سوبه د چا په برخه شوه؟ د مسلمان ملّت او که د فریبگرو
ملحدانو؟!!

# د اسلامي پاڅون پیلامه او د مسلمانانو تر منځ لیدنې کتنې

پخوا مو یاد ونه کړې وه چې د زندان او هجرت په لور د شاه زلمو کاروان هم د خلقي ضد کودتا سره سم د امتحان او ازموینتونو په اغزنه لاره منزل پیل کړ چې د دا سې وضعې په رامنځ ته کیدو سره د کمونیستي رژیم پر خلاف د سیمه والو په ذهن منفي اغیزه پریوته تر کومې چې د کمونستانو نیول او ځورول زیاتید ل هومره یې د اولس په منځ کې له ناولو خیرو تخم پر ذې پورته کیدې.

دا مو هم یاده کړه چې د هجرت له دیار ,, د تحریک له مرکزه،، سره د سیمې او ریکې د کمونستانو له بې کچه فشار او تهدید سره سره بالکل غوڅې نه شوې، او وخت پر وخت په سیمه کې د کفري نظام راپرزولو لپاره لازم تماسونه ترسره کیدل، د ۵۸ کال د حمل په میاشت کې د هجرت په چاپیریال کې د سیمې مهاجرو ورونو په هیواد کې د جهاد د لمنې د پراخوالي په وجه سیمې ته

د تلو بیاره مشرانو ورونو «ښاغلي نوال نقیب الله او مولوي نصیر آخوندزاده»، ته پېښنهاد ونه وکړل، چې څو څو ځوی دې بیا هم چې جهاد بیا ره وسله نه وه او د ورد ګو ولایت د کابل او غزنی په منځ کې د کفري قواؤ په ځوکیلو متره کې پروت دی، د غه پروګرام د مصلحت پر خلاف او بې وخته وباله، خو په سرحدي جبهو کې یې د جهاد مشوره ورکړه ع۱

د رهبرۍ له مرکز څخه په ۵۷ او ۵۸ کال کې حاجي تورګل، محمد امین ماما چې د حزب رما ما په نامه مشهور دی او منګ جلا جلا وردګو ته ولېږل شول، تر څو د سیمې وضعیت درک او له ورشول شویو کسانو سره او ریکې ټینګې کړي.

دیاوني ورده چې د ځه پاځون رومبۍ هڅې له څوځانګړیو لوریو او کسانو څخه پیل شوې او ځانګړې هڅه ځای پېښې هلې ځلې روانې وې، خو وروورو یو له بله سره پیوست

---

ع۱: د چک او لسوالۍ او د ایرداد و علاقه دارۍ مځنو ورونو ۱۳۵۷ کال په منۍ کې په سرحدي جبهو کې د جهاد ویا رحاصل شوی و، چې مولوي محمد شیرین، قاضي علم ګل، خرت ګل «کنډاروال»، ډاکتر محمد قاسم، عاي ګل ضابط محمد امان «حنیف»، باطن او د دغه لیکنې لیکوال ګل محمد «نګه» لوګر په ولایت کې له قیام سره جوخت ملا عبد القادر «شهامت شهید»، حاجي فضل الربی «احدی»، او آغا شیرین لوګر ته واستول شول چې له خوښو ورو سنګرو مرکز ته راستانه شول.

شول او بالاخره قیام په یوه نیته پیل شو، ځنې بیکوالان یا نورکسان چې په یوه اوبل دلیل غواړي د پاڅون اصلي تحریکي سرچینه «حزب اسلامی افغانستان» پټه او په یوه اوبل لوري بې اړوي، لرې دوو گوتو پټول غواړي، حقیقت دادی چې دغه ویاړلی پاڅون د حزب اسلامی په قوماندهٔ پیل شو، چې زما ددغه ادعی ثبوت د سیمې ټول په قیام کې شریک کسان دي که څه هم وروسته بیا د دغه پاڅون ځنې فعال شریک کسان له حرکت، جمعیت، او نورو تنظیمونو سره یوځای شول، خو له قیام څخه یوازې یوازې له حزب سره اړیکې درلودې، همدا رنگه باید د دغه مطلب نه پاملرنه وکړو چې دهسې خود او لسوالۍ او علاقه دا رې ټولو مسلمانانو د اسلامي پاڅون اروا پال تکبیر په یوه غږ سره بدرگه کړ او د خپل فطرت غوښتنې ته یې لبیک ووایه، خو ځنو سرتیرو زلمیو تر نورو په دغه ستراز موینت کې زیاته ونډه درلوده، که څه هم د سیمې د خلکو ذهنیت دهر مسلمان پر بند او فرار د خلقي ضد داړه ماړانو پر خلاف رایا رید ه او په زړونو کې یې له کمونستي رژیم سره سخته کرکه راولاړیده، خو دغه نفرت له اندیښنې څخه د عمل ډگر ته د راوستلو پاره هلو ځلو او قربانۍ ته ضرورت ؤ.

چې د غه ډګرونه د سيمې يو شمير مؤمن کسان شامل شول او عملاً يې د کفارو پر ضد د جهاد سنګرته ودانګل چې د پاڅون په زمينې برابرولو کې يې د علاقه دارۍ په سطحه حاجي تورګل عبدالصبور جان، ملک عصمت الله خان، عبدالکبير خان علاؤالدين، ملا جمال الدين، ملا رحمت الله، غلام دستګير خان، حاجي منګل مرحوم مامور عبدالجميل خان، معلم محمد امان «کوچی» شهيد عبدالجميل آغا، شاه الدين، شهيد بسم الله خان، قاضی زاده او ځينو نور ورونو او د ولسوالۍ په سطحه ملا اشراف الدين خان، ملا نجم الدين ملک امير خان، ملنګ، مدير محمد شريف «عبدالستار» شهيد ملک عبدالرؤف، حاجي محمد ظاهر، اله داد، مولوی عبدالحليم «بيرګـد» او ولسوال ابن يمين خزانه دار عبدالاحد خان ملا ګلو جان، غلام علي، ملا احمد زی، ډاکتر غلام حضرت او ځينې نورکسان ډيار ولو ونډه درلوده اوپه عمومي ډول د غه ورونو ته په مستقيم ډول له مرکزي حوزې څخه د شهيد مدير محمد ولي خان او ځينو نورو ورونو له خوا هدايت ورکول کيده ورو سته بيا د غه تنظيم پرکې فعاليتونه د حاجي تورګل، ملنګ ابن يمين انجنير شيرزاده شهيد، مدير عبدالستار او ځينو نورو ورونو په هڅو او هاند سره يو او متحد شول چې د حاجي تورګل کارنو تولو کې بنيادی حيثيت لري.

سربېره پر دې په لسګونو نورو مجاهدو زلميانو په دغه
حماسه جوړونکي قيام کې د قدر وړ سرتېرېيلي کړې دي چې د
پېښو د تشريح په جريان کې به يې لوستونکي له نومونو او فعاليتونو
سره آشنا شي.

د حمل د مياشتې په وروستيو کې ور دګو ته د نوي پکو
ورکولو آوازه ګرمه شوه چې له څو ورځو وروسته يې تحقق
وموند، د تنګي او سيد وتاني محمد غوث "حکيمي" چې هغه وخت کې
د پوهنې په وزارت کې د پلان رئيس او ستر خلقي و، له يوه
هيئت سره د سيد آباد او چک او لسوالۍ ته راغی او خلک يې د
حکومت له تصميم څخه خبر کړل، د سيمې مسلمانانو د غه کار د خدای
يوه غيبي مرسته وبلله، بيله څنډه يې حکومت ته د سر ټول مرستې
او ملګرتوب وړاندې وړکړ وروسته بيا د حکومت او اولس ترمنځ له يو
لړ ليد نوکتنو او تګ راتګ وروسته حکومت د او لسوالۍ او
علاقه دارۍ له مشرانو څخه د ثور په "۲۰" مه د علاقه دارۍ او
او لسوالۍ د ساتلو په برخه کې د کاغذ پر مخ استعلام وکړ، د ولس مشرانو
د وسلو په موجوديت کې د حکومتي د فترونو د ساتنې وعده ورکړه
او په هغه استعلام کې يې ځواب ورکړ، څرنګه چې حکومت د هغوی
خبرې غوښتونکی و، نوموړی استعلام په ډېره خوښۍ د ثور په
(۲۲) مه د ور دګو ولايت او د کورنيو چارو وزارت ته ورسيد،

وروستنه بیا د حکومت له خوا محمد غوث «حکیمی» حبیب الله د حاجی علم گل زوی، لاجبر» محمد سمع د فراموز زوی او ملک خانصاحب د اولسوالۍ او مدیر زلمی، سالو او محمد آمین د دامیر داد او د نویکو لستونو او شمیر څرگند ولو لپاره هیئت وټاکل شول چې د دوو ورځو په جریان کې د غه لستونه مکمل او د ورد گو د ولایت او کورنیو چارو وزارت ته ورسیدل. په نتیجه کې (۱۴) موټره توپک او کارتوس د ثور په (۲۸) مه نیټه د چک اولسوالۍ ته راورسیدل سبا ته (۴) موټره د علاقه داری په لورولیږدول شول او پاتې «۱۰» موټره یې په ولسوالۍ کې وېشلو لپاره پرېښودل، د جوزا په (۲) مه په ولسوالۍ او علاقه دارۍ کې د وسلو ویشل پیل شول په علاقه دارۍ کې د دوو ورځو او په اولسوالۍ کې د شپږو ورځو په موده د نویکو ولیش جریان درلود، څرنگه چې د نویکو وېشلو جریان نیغ په نیغه د اسلامي پاڅون سره اړه لري نو په اولسوالۍ او علاقه دارۍ کې د وېشلو جریان د پاڅون ترسره رسیدلو پورې جلا جلا ترڅیړنې لاندې نیسو او دې لپاره چې د پاڅون په شپه په علاقه دارۍ کې پاڅون بشپړ بریالی شو او ولسوالۍ حمله بیا په نیمگړي ډول ترسره شوه لومړی د علاقه دارۍ پرېښودو رڼا اچوو او وروستنه بیا په ولسوالۍ کې د پاڅون د جریان پېښو ته دوام ورکوو.

# په علاقه دارۍ کې د توپکو وېش او پاڅون

ځکه چې له یوې خوا د تره کي رژیم د اولس د عقیدې عنعنې او ملي روایاتو پر خلاف پروګرامونه درلودل له بلې خوا یې د اسلام سره د ټکر په مقابلې په ترڅ کې د سیمې مؤمن بچیان یا په زندان ورتښېل وهل او یا یې د هجرت لاره ونیوله د سیمې په وګړو کې ددې پرځای چې له رژیم څخه وېره او چوپتیا په زړونو حاکمیت ومومي د خلقي ضد رژیم پر خلاف عمومي ذهنیتونه راوښېتل او د اسلامي تحریک له مرام سره همګام شول، نور نو په سیمه کې د خدای ج په فضل اسلامي خوځښت له هغې مرحلې څخه تېر و چې د ځوانانو په هجرت او یا بندي کېدلو یې کفرلړزوونکې څپې ودرېږي۔

کله چې د بامیانو مسلمانانو د حکومت پر ضد پاڅون وکړ د علاقه دارۍ خلکو چې د دغه وضعیت له نږدې لیدلو نو ځینې هم حواس غښتلي شول، له علاقه دارۍ څخه د ځنو ورو ونوله هجرت څخه ورو ستنه

د مرکز له حوزې سره اړیکې د ملا جمال الدین سره پاتې شوې، نوموړی د میدان ولایت او سید ونکي مولوي عزیز الرحمن شهید[له] سره اړیکې درلودې، ملا جمال الدین د مرکز په هدایت په سیمه کې د باور یا مسلمانانو سره په اړیکو ټینګولو پیل وکړ، د ۱۳۵۷ کال د جدي په میاشت کې نوموړي له عبدالصبور جان د بخشک کلي او سید ونکي سره راز شریک کړ او ورپسې د پټو پټو جلسو او فعالیتونو په نتیجه کې د دغه ورونړو د کوښښونو په اثر یو شمیر باحسا سه مسلمانان په یوه حلقه کې راټول شول او منظم لیډل کتل یې کول د دغه لو مړنی حلقې غړي لاندیني کسان وو.

ملا محمود، انجنیر نواب، عبدالصبور جان، ملا جمال الدین، گل و جان لحیان ملا جنت گل، محمد ظاهر، حاجي جما الدین، سالم جان، عبد الغفور او شهید بسم الله خان.

هدا رنگه مرحوم عبد الکبیر خان د یوې بلې حلقې په مشرۍ د حکومت پر خلاف سرې فعالیت کاوه چې په هغه ډله کې مامور

---

[له] په ۱۳۵۰ کال کې دداؤدي حکومت پر ضد د اسلامي پاڅون پیاره چې اسلامي نهضت "حزب اسلامي افغانستان" کو وسله بجشیر، لغمان، ننګرهار د قیام بیارۀ استولي وه او د هغه له جملې څخه په مرکز کې هم موجود وه کله چې د نورالحجې ورو ستـه په کابل کې د حزب اسلامي پټۍ افشا شوې او هغه وسلو څخه څو میده مولوي عزیز الرحمن شهید ملـر یزته ورې وې تر څو یې مناسب وخت کې د خلقیانو پر ضد کار ترې واخلي. مولوي عزیز الرحمن شهید چې په عبدالطیف سره یې شهرت درلود، په ۱۳۵۸ کال د میدان په ولایت کې لـه خلقیانو سره په یوه مخامخ نښته کې شهید شوی دی.

عبدالجمیل خان، ملک عبدالله خان او ځنې نورکسان پکې شامل وو، د دوار په حلقوارتباطات حاجي نورگل سره ټینګ او متحد کړل،

د ۵۷ کال د حوت په میاشت کې یوځل ملا رحمت الله د حزب نښانونه او ځنې چاپ کړې رسالې له مولوي عزیزالرحمن شهید څخه راوړل او په سیمه کې یې پټ وویشل، ورلسپي ا بخنیر اولیا د حزب یوه اندازه چاپ کړې آثار ،مرام، مسئولیت هایي غضو تره کې څه وایي او د حکمت یار صاحب عکسونه په سیمه کې تیت کړل، د حوت د میاشتې په شلم عزیزالرحمن شهید د سالم جان تومي مجاهد په لاس یومیاشتنګن او یومیل تومانچه د علاقه دارۍ تنظیم شویو مجاهدینو ته راولیږل چې هغوی د بخشک په غره کې په د غه وسلو تمرین پیل کړ او د وسلو استعمال او تاکتیکونه یې زده کړل، له څو ورځو تمرین څخه وروسته د حوت په (۲۶) مه. ملا محمود خان، سالم جان، عبدالصبور جان، خلیل الرحمان، میرو جان، عبدالحلیم، ملا جنت گل او ولي جان نوموکسانو په هغه غره کې پر علاقه دارۍ د حملې تصمیم ونیو او په کلکه یې یو بل ته تعهد ونه وسپارل.

دحوت په (۲۸) مه دکابل له مرکزي حوزې څخه استاد محمد عمرخان ،، سیمې ته راغی او دحوت په (۲۹) مه یې د سیمې له مجاهدینو سره د بخشنک په کلي کې دشپې غونډه وکړه چې په دغه غونډه کې پرعلاقه دارۍ د برید تصمیم بیا هم ونیول شو، د دغه غونډې غړو فیصله وکړه چې دحمل په دریمه به یو ځل بیا راغونډیږي او دحملې ترتیبات به نیسي- په تاکل شوې نیټه خیل ،، قاضي زاده ،، دخپلې کومې شخصي ستونزې په وجه حاضر نه شو دغونډې نورو کسانو نوموړی دحکومت ملګری وګاڼه سملاسي یې پرعلاقه دارۍ یرغل شاته وغورځاوه او دخیل ،، قاضي زاده ،، دترور په باب یې فیصله وکړه ، خو سبا ته قاضي زاده غونډې ته حاضر شو او دخپل ضرورت په باب یې دغونډې نورو غړو ته قناعت ورکړ او د هغه په باب دغه بدګوماني بیرته لرې شوه.

دحمل دمیاشتې په (۳) مه نیټه د ماښام په ۸ نوبجو اکبرچمنتو ،، علاقه دار ،، دڅوتنو وسله والو خلقیانو وعسکرو سره د تنګي سید ۱ نو او سیدونکي عبدالجمیل آغا د نیولو لپاره کلي ته ورغلل کله چې عبدالجمیل آغا د علاقه دار له ورتګ څخه خبر شو څرنګه چې د مخه یې دداسې عمل انتظار درلود او ځان د ساتنې لپاره یې ټوپک ترلاسه کړی و پر ،، اکبرچمنتو ،، او اندیوالانو

يې وزرې وکړې، او هغه يې بيرته په شا وتښتول، له همغې ورځې څخه د پاڅون ترتيبل پورې شهيد عبدالجميل آغا په سيمه کې پټ شو.

د حمل د مياشتې په (١٢) مه د جلګې ذکر شوي وکسانو بله غونډه وکړه او په هغه کې يې د اسلامي پاڅون د پيل په دود د عبدالواحد خان ښوونځي د سوځولو او د سازماني او خلقي ښوونکو د له منځه وړلو پريکړه وکړه چې د حمل د مياشتې په (٢٥) مه نيټه پرنو موړي مکتب د خليل الرحمن قاضي زاده په قوماندانۍ حمله وشوه او د مکتب ودانۍ او ادارې ته اور واچول شو، خو نور پروګرام ئې خلقي ښوونکي په مکتب کې نه وو او ژوندي پاتې شول، د دغه يرغل ځينې شريک کسان د مکتب د چپراسيانو لخوا او ښوول شول خو د مسلمانانو د سخت تهديد او اخطار ور وسته يې د دغه پېښې درسمي پلټنې په وخت کې خبره پټه کړه او د پېښې مسئول کسان يې حکومت ته په ګوته نه کړل.

د حمل په (٢٦) مه نيټه حاجي تورګل له کابل څخه راغی او په بخشک کې يې له عبدالصبور رحماني انجنير محمد نواب، قاضي زاده، عبدالحليم، بسم الله خان او څو نورو کسانو سره پټه غونډه وکړه او د دوهم ځل لپاره يې د ثور په

اوومه د پاڅون لپاره له ذکر شویو کسانو څخه تحهد واخست او حاجي تورګل بیا د بارونو او نورو مهماتو د رسولو ژمنه وکړه.

د ثور په (۲) مه عبدالرؤف خان او عصمت الله خان د دغه پټهو غرنیو دوه موټره او بیا ورپي کسان د مرستند زیم لخوا په پلمه دچک اولسوالۍ ته وغوښتل شول هغوی هم له بې احتیاطۍ څخه کار واخست او په خپلو پښو د خلقي بریڅو پنجو ته ور غلل او دچک په اولسوالۍ کې بندیان شول، وروسته بیا عصمت الله خان بیرته خوشې شو خو عبدالرؤف خان دشاقدم اوسید ونکی ترننه بندي پاتې شو خدای خبر دی چې اکوم برخلیک سره به مخامخ شوی وي د برقي وندو په مقابل کې به یې د شهادت جام پرسر اړولی وي که به په پولیګون کې دبلد وزرپه واسطه ژوندی ترخاورو لاندې شوی وي؟! خو تر ننه یې بیا څوک له حاله نه دي خبر شوي.

د ثور د میاشتې په لومړیو شپو کې د خلقي فاجعې د ماتولو څخه مخکې دعبدالواحد خان نیوونځي د سوځیدلو پېښې د پلټنې لپاره له ولایت څخه یوه حزبي او دولتي هیئت راغی د ذکر شوې

پېښې له سرسري پوښتني وروسته هغه هیئت د ټوپکو د ویشلو آوازه په اولس کې واچوله، په هغه وجه حاجي «کوثر» د ثور په پنځمه نیټه یو ځل بیا له خپلو ملګرو او په حلقه کې شاملو کسانو سره په علاقه دارۍ ورغلل نیټه د ثور له اومې ځخه بیرته ونورځوله ترڅو د ټوپکو د اخستلو په صورت کې وسلې ترلاسه او په داده زړه بیا پاڅون وکړي

د مکتب سوځېدو د پېښې په باب د هیئت له پلټنو او د ټوپکو له آوازو وروسته د ثور په شلمه مرتد رژیم د جلګې له خلقو ځخه رسماً استعلام وکړچې د علاقه دارۍ او حکومتي مربوطو ځایونو د ساتنې په باب وُچې تفصیل یې ځکښې یادشوی او دلته یې د تکرار ضرورت نشته، بالاخره د ثور په (۲۹) مه نیټه د چک له اولسوالۍ ځخه (۴) موټره ټوپک او کارتوس علاقه دارۍ ته راورسیدل او د ویشلو پاره یې سمع د فراموز زوی، نور ن سالو د عصمت الله خان ورورچې په هوایي قواؤکې یې د ندره درلوده، مدیر زلمی او محمد آمین، د حفیظ الله آمین یاډی ګارد علاقه دار عبدالکبیر خان ورارہ یې د علاقه دارۍ له نور و مسئولینو او سازماني غړو سره د ویش هیئت ټاکل شوي وو.

په کومه ورځ چې د ټوپک علاقه دارۍ ته داورسید ل علاقه دار او د ولیشي هیئت سمدستي په عسکرو ددې کلیو مشران وروغوښتل او بیله مقدمې یې ورته وویل چې وسلې واخلي او د هزاره ؤ سره به جنګ ته ځي، د کلیو راغونډ و شویو کسانو چې د خلقیانو د غم عجیبې او غریبې!! فرمود ې او قوماندې وا وریدې بیرته خپلو کورونو ته ستون شول او د ټوپکو له اخستلو څخه یې په ډله ئیزه توګه ډډه وکړه، کله چې خلک له علاقه دارۍ څخه بیرته ستانه شول ستمع د فواموز زوی عسکرو ته قوماند ه ورکړه، چې په خلکو ډزې وکړي خوځنې اولسي خلک او د علاقه دارۍ نورکسان ترمنځ شول او د غه کارعملي نه شو، عبدالصبورجان، شاهي دین، او عصمت الله خان په علاقه دارۍ کې پاتې شول او د شپې له خوا یې د علاقه دارۍ له مسئولینو او د ټوپکو د ولیشي له هیئت سره د ټوپکو د ولیشي په باب خبرې وکړې او علاقه دار او تورو خلقي ملګرو ته یې وویل چې سملاسي پر هزارګانو د جګړې خبره شاته و غورځوي یو ځل اولس ته وسلې ورکړي بیا یې د هزاره ؤ سره جنګو ل زموږ پر غاړه او وروسته پریکړه یې هم داسې شوه، سبا ته عبدالصبورجان، شاهي الدین او عصمت الله خان د حکومتي

مامورينو په خوښه او مشوره په ولسوالۍ کې تيت شول تو څو خلک پيدا نه د ټوپکو او خشتلو لپاره را وبولي، د جوزا د مياشتې په « ٦ » مه په چک اولسوالۍ کې ايمرودادو علاقه دارۍ کې د اولس د پوره تيارۍ او وسلوا خشتلو له چمتو والي وروسته د ټوپکو ولېشې پيل شو.

يوه تن نه يوميل يوړې ټوپک او شل گنټې دوه سوه دزه « مرمۍ ورکول کيدل، په خلکو کې عجيب شاني احساس او خوښيا څرگنديده، تش لاس ملّت د جهاد لپاره وسلې ترلاسه کولې هغه هم د دښمن له لاسه، په خوښۍ او جم جوش د ټوپکو ولېش جريان درلود، د دوو ورځو په جريان کې د علاقه دارۍ ټول اړوند کلي په وسلو پوره پوره وسله وال شول او ټول ر ۱۷۰۰) ميله ټوپک وويشل شول، شپه ورځ وسله والې گزمې او پيرې پيل شوې او دا اولس په منځ کې د مسلمانانو ليدنې کتنې او د مرتد رژيم پر خلاف اراده را څرگنده شوه، ټولې سيمې د اسلام په سپيڅلي احساس کې نالونه خوړل، خو دغرور په نيلي سپرو بې بصيرته خلقيانو له ستر گو نه هرڅه پناه وو، نو رد دا يمرودادو علاقه دارۍ په مسلمانو پر گتر کې دکوښتنې بر ځو د بد مستو مزدورانو بخت را پرېوتي و، هلته د اسلام سرتېرې ننگيالي په خپله د دښمن له خوا شه په خوند ــ

وسله وال شوي وو اود دغه سيمې په شکلو دروکی دراتلو ښکي برېيات اسلامي پاڅون اروا پالونکي تکبيرونه ترغوږ وکيدل چې ډير زربه دمسکو دمزدورانو پرېنا ولو هيلو توری خاوري وا ړوي او د اسلام په تاريخ کې به يوه نل پاتې حماسه په يادگار پريږدي.

دسيمې مجاهدو ځلميانو يوځل بيا دغاصب او سرکښي دښمن په وړاندې دحسين رض پر پله دافغاني کربلا دگرته خانونه چمتو کول، په همدغه احساساتو او جذباتو کې دجوزا په (۸) مه دعلاقه دار ځاله فعالو مشرانو څخه يوه غير رسمي شورا جوړه شوه چې دټول اولس باوري کسان پکې راټول وو تر څو دپاڅون نقشه او کړنلاره په ښه تدبير او وقت سره ترتيب او سيمه دکفري نظام له منگولو څخه وژغوري. ددغه شورا غړي دغه کسان وو:

۱ـ عبدالصبورجان دبخشک کلي اوسيدونکی.

۲ـ علاقه دار عبدالکبيرخان ددالان کلي اوسيدونکی، چې په دې وروستيو وختونو کې دحکومت له گوډاگيانو څخه په سيمه کې پټ شوی و.

۳ـ خليل الرحمن قاضي زاده دموکي کلي اوسيدونکی.

۴ـ شهيد بسم الله خان د"پاره کلا" اوسيدونکی.

۵ـ شاهي الدين د محمد يار خيلو كلي او سيد و نكى .

۶ـ حاجي علي خان د قطب خيلو كلي او سيد و نكى .

۷ـ عبد الحليم د حاجيكه كلي او سيد و نكى .

۸ـ غلام دستگير خان د ميرانو كلي او سيد و نكى او

۹ـ علي جان د قطب خيلو كلي او سيد و نكى .

پورتنى (۹) تنه سره راټول شول تو هر څه د مخه يې د هزاره ورونو د دادا و تسلي لپاره د هڅوى د دوو تنو آمرا نو و د سيد جگرن د ناور آمر» او «غريب داد د بهسود و آمر» سره د مفاهمې لپاره تصميم و نيو چې ورو سته بيا د دغه كار لپاره لومړى ځل شير بيندل خان نومي يو تن وټاكل شو چې د نورو كسانو سره و وينې او د وردگو د خلكو له سپيڅلي نيت څخه يې خبر كړي.شير بيندل نومي دغه كار تر سره كړ و خو بيا هم د هزاره ورو نو سره د وردگو تو پكوا ختلو په باب پوره اند يښنه وه، تر څو دوهم ځل لپاره حاجي تور گل، ابن يمين او اله مير نومى مجا هد درى واړه د شورى لخوا موظف شول چې د هزاره ورو نوا نديښنه ارتشو يش لرې كړي، نو موړو كسانو له سيد جگرن سره وليدل او د نږ دى ورځو په جريان كې يې د اسلامي يا ځوت په باب پوره دا ډ ور كړ، د دريو تنو نورو مجاهدينو غلام جان، كوچي او امير جان له

غوریبدا د سره وکتل او هغه ته یې هم اطمینان ورکړ، په دې ډول د هزاره ورو نو تشویش له دې لوری څخه بالکل لرې شو.

دچک په اولسوالۍ کې هم توپک ویشل شوي وو، او خلقیان نور د خپل شوم پلان د دوهم پړاو د عملي کولو په لټه کې شول، له اولسوالۍ څخه د جوړا د میاشتې په «۱۳» علاقه داری نه لس مونږه وسله وال کسان چې تر (۲۰۰) تنو پورې رسیدل له څو تنو خلقیانو او سازماني غړو سره راغلل، په دغه لړ کې د چک اولسوال هم ؤ، هغه د علاقه داری پرسونل او د ټوپکو د ویشنې هیئت ته جدي وویل چې نور د هزاره ؤ سره د جنګ کولو ضرورت نه دی، د علاقه دارۍ د اولس سپین بږیري ټوپه بیرته راوغوښتل او د جنګ په باب یې خبرې ورسره پیل کړې، غلام دستګیر خان، عصمت الله خان، ملک عبدالله، مامور عبدالجمیل د سیمې د نورو کسانو په نمایندګۍ ورته وویل چې موږ به په اولس کې وګرځو او خلک به د جګړې لپاره چمتو کړو، د خلقیانو لخوا دغه خبره ورسره ومنل شوه په دې ډول په اولس کې د خلکو د عملي پاڅون لپاره، د لږ وکتو لپاره فرصت ترلاسه شو، نور نو د پاڅون کولو خطر درلود ۲ و مره شپې ددې امکان ؤ چې خلقیان د اولس په مقصد او اصلي

هدف وپوهیږي او کوم خنډونه رامنځ ته شي نو په همدغه شپه د بخشک په کلي کې د عبدالصبورجان په کور کې حاجي نورگل، عصمت الله خان عبدالصبورجان، عبدالحلیم، جلات خان، میروخان، محمد آمین امیرجان، غلام جان او کوچي "او ابن یمین په گډون یوه بیړنۍ غونډه وشوه، په دغه غونډه کې دا ولسوالۍ سره په یو وخت یرغل لپاره د ټولو تیاریو په پام کې نیولو سره د جوزا د میاشتې (۱۵) ماښام د اسلامي قیام د پیل نیټه وټاکل شوه او د دغه غونډې په پای کې د خدای په پردین باندې د ننگ لپاره یو له بله کلکې ژمنې او تعهدونه واخستل شول، دا ولسوالۍ د مجاهدینو سره د اړیکو لپاره میروجان نومي مجاهد دمدیر عبدالتیار او ملک امیرخان په لوروا ستول شو، یو تن د مرحوم عبدالکبیرخان "علاقه دار" لپاره چې په آبکذار کې و واستول شو چې د دغه پریکړې په باب یې خبرکړي، او پاتې مشران غلام دستگیرخان، ملک عصمت الله خان، عبدالصبورجان او نور په اوس کې وګرځیدل خلقیانو فکرکاوه چې خلک د هزاره وسره جگړې ته رابولي خو هغوی د اسلامي پاڅون تیاری نیوه او د ټاکلې نیټې لپاره یې خلک پر علاقه داري د حملې لپاره چمتوکول، په همدغه شپه د علاقه دارۍ د یرغل لپاره داسې نقشه جوړه شوه چې د علاقه دارۍ ټول وسله وال کسان د سیمې د وسله والو کسانو د

ښمير په اساس له ميرانو ځمخه پورته ولس مجاهدين د بخشک په کلي کې راغونديږي او له بري خوا په علاقه دارۍ حمله کوي، له ميرانو ځمخه تر دورانيو پورې مجاهدينو ته د تلفون مزي پريکول، سرک ساتلو او کوزني ځوا ځمخه پر علاقه دارۍ بريد کول ور وسپارل شول، له دورانيو ځمخه د علاقه دارۍ او ولسوالۍ تر بريد، د تنګي سيدان، کلي پورې د تنګي سيدان مکتب رنګول او د تنګي ساتل ور وسپارل شول چې د کونستانو احتمالي خطرونو او يرغلونو مخه ونيسي، د علاقه دارۍ د حملې عمومي قوماندان شهيد بسم الله خان وټاکل شو، د منځنۍ برخې مجاهدينو قوماندان حاجي جمعه خان د حاجي ګل احمد خان زوی د لښکري کلي او سيد ونکی وټاکل شو او د تنګي سيدانو او مکتب سوځولو قوماندان شهيد عبدالجميل آغا مامور عبدالجميل خان او حاجي منګل مرحوم ته په ګډه ور وسپارل شوه.

د جونا په (۱۴) نېټه د مجاهدينو راغونډيدل پيل شول د ورځې په (۱۲) بجو د اورمړ و کلي سره چې د علاقه دارۍ د لارې پر سر پروت دی پهره وردول شوه او له علاقه دارۍ سره يې د خلکو ننګ راتګ بند کړ، په علاقه دارۍ کې د ټوپکو هيئت سره تر لسو تنو پورې کلک حنفيان وو چې تر مرګه يې د مقاومت تصور کيده ددې لپاره چې د شوروي ټينګار کمزوری شي داسې پروګرام ونيول شو چې

سالو د عصمت الله خان ورور او محمد امین د حفیظ «لعین» یاور

په د میلمستیا په بانه له علاقه داری څخه را وایستل شي په دې دول

به په علاقه داری کې لیوازې علاقه دار «اکبرچمتو»، د سارمان منشي

«مختار»، او څوتنه نورخلقیان پاتې شي د هدې هدف لپاره دبخشک

کلي عبدالصبور خان او د حکیم خیلو بسم الله خان علاقه داری

تورغلل، تورن سالو او محمد آمین ته یې د میلمستیا بلنه ورکړه

هغوی لومړی ځان غړا وه او نه حاضریدل خو د عبدالصبور خان

د ډیرټینګار څخه وروسته سالو د غه میلمستیا ومنله عبدالصبور خان

ته یې وعده ورکړه چې ماښام به درځو، ماښام مدیر زلمی، سالو

او دوه تنه وسله وال عسکر په جیپ کې د بخشک کلي ته ولاړل

هلته یې چې د خلکو بیړبار ولید شکمن شول د عبدالصبور خان

د نیولو لپاره یې یوتن هزاره عسکر ور ولیږه او نور دری واړه

د عصمت الله خان کره کورته ولاړل، تر څه وخت انتظار وروسته

مجاهدین ورننوتل سالو، مدیر زلمی او عسکر یې دری واړه

ونیول وسلې یې تری تښولي کړې او لاس یې تر شا ور واړول

هغه هزاره عسکر چې د عبدالصبور د نیولو لپاره سالو و راستولی

و، هم بې وسلې و نیول شو ، هغه فکر کاوه چې د غه وسله وال

خلک د هزاره وسره د جنګ لپاره راننول شوي دي په ټرړا

شو خو چې په اصل حقیقت وپوهید ه چې سالو، مدیر زلمی او

هغه بل عسکرهم بندیان شوي دي او خلکو اسلامي پا څون کړی دی بیرته خوشحاله شو.

د ماز دیګر په دري نیمو بجو د تنګي سیدانو «غازی مومین خان» پرښوونځي د عبدالجمیل آغا په مشری مجاهدینو ورغلل او د صد مردی مشهور سرمعلم «ګل رحیم» او یوتن معلم یې ژوندی ونیول او په هغه ځای یې اعدام کړل د لومړي ځل لپاره په علاقه داری کې د مسلمانانو د وسلوله خولې څخه د کسات ګولۍ د بې دینو خلقیانو پرسینو ورتشې شوې او د لومړي ځل لپاره د اسلام دښمنه بریځو ککوټه په ځمکه پریوتې، مانیام مهال له ولسوالۍ څخه یو عراده زره پوښ او یو عراده جیپ چې نهول (۹) کسه خلقیان پکی سپاره وو د علاقه داری برید ته ورسیدل، مونږ د ګوره په برخه کی د سرک د خرابوالي په اثر پاتې شو او پکې سپاره خلقیان «سمع د فراموز زوی، اختر محمد د لیسې د سازمان منشي عبدالرقیب «نوده» د بمباټي لیسې مدیر، محمد علم د بمباټي کلي مشهور کمونست معلم، یوتن د تورباني کلي او سید ونکی د بمباټي د لیسې خلقي زده کوونکی او وحید رحمان نومی تلفونچي وو، سهار د ګوره خلک اختري او سمع له ګورونو نه په زوررا وایستل او سرک يې ورباندې جوړ کړ کله چې د تنګي سیدان برخې ته ورسیدل د

مجاهدینو لخوا د ګولیو باران ورباندې جوړ شو، سمع، عبدالرقیب اختری او ولیسي زده کوونکی ځای په ځای ووژل شول، محمد علم او تلفون چې حید رخان تپیان شول او په شا وتښتیدل ـ

زره پورې بیا هم غه ماښام له تنګي سیدان څخه تیر شو د مجاهدینو د مرمیو په باران کې د ریو ر هواس بایللو دل او د «ریکو» کلی سره زره پورې واوښت څلور تنه سپرلي یې د «بوم» کلي یو ه تن فعال کمونست محمد نعیم په ګډون د صدو خیلو تکړه مجاهد سید نومی اسیران کړل له د غه خلقیانو څخه درې میله کلاشینکوف او یو میل بوړی ټوپک ولجه شول،

د حق او باطل ترمنځ د وروستۍ فیصلې مهال راغی د اسلام د لارې سرتیري د شپې په ۱۱ بجو د بخشک کلي څخه د علاقه دارۍ په لوري وخوځیدل او د شپې په لسو بجو د علاقه دارۍ په شا و خوا کې سنګرونه ونیول، په «۱۰» لسو بجو دیر غل عمومي قوماندان بسم الله خان د تکبیر په غږ او بوړۍ په ډزو سره مجاهدینو ته د برید قوماندې ورکړه په دې ډول د سترګو په رپ کې د شپې چوپه چوپتیا د ټوپکو د کړسا په انګازو ډکه شوه، له دواړو خواؤ په زورسره د ډزو دوام درلود، دیمې د مسلمانانو زړونو په سینو کې ټوپونه وهل او نورو نبڅو د مسلمانانو درې

سپاره د خدای ج په دربارکې لاسونه پورته کړي وو، ټوله شپه جګړه روانه وه. څرنګه چې د علاقه دارۍ کوټې پخې وې د کلکو مورچو په خیر ترسهاره خلقیان پکې ټروندي پاتې شول، د سهار له لمر څرک سره سم له هر لوري مجاهدینو د خلقیانو پر مورچلو ورختل پیل کړل، رومبی یوه ډله سرتېري مجاهدین د کونستانو پر یوه پخه مورچه وروختل درې تنه کونستان یې چې سخت مقاومت یې کاوه، ځای په ځای ووژل، څلور تنه عسکر یې مجاهدینو ته تسلیم او لاسونه یې پورته کړل، نور د مجاهدینو وینې په جوش راغلې او په یوه الله اکبر چیغه پر علاقه دارۍ ورپرېوتل، د مجاهدینو د تکبیر چیغو د خلقیانو د مقاومت جذبه سړه کړه او په روښانګې په مجاهدینو ډزې ونه شوې کولی، علاقه دار «اکبر ځمتو» چې د سر سختو کونستانو له ډلې څخه ؤ، په یوه سنګرکې ووژل شو، کله چې په سیمه کې د تکبیر چیغې پورته شوې د کوزې خوا مجاهدین له علاقه دارۍ څخه د پنځو سوو مترو په شاؤ خوا کې کوزې خواته پر پرته مورچه ور وختل چې د علاقه دارۍ له سازمان ملشې «مختار» او څلورتنه عسکر پکې وو، هغوی ټوله شپه ډزې کړې وې خو کله یې چې په علاقه دارۍ کې د تکبیر غږ ونه واورېدل، وپوهېدل

چې د مجاهدینو په لاس کې لوېدلي او مقاومت ګټه نه لري نو له سنګرونو نه راپورته شول او د مجاهدینو په خوا په خپله راروان شول، ملا محمد اسلم د آبکندرا او سید ونکي د «خردُم» په واسطه مختار د سازمان منشي ته په ورمېږ کې یو ګوزار ورکړ او په حملې راغورځاوه نورو مجاهدینو د بېروبار ان خپل زړونه ورباندې یخ کړل او حمله یې سنګسار کړ، نور عسکر چې مسلمانان وو تړوندیا یاتي شول او چا ته غرض ورسره ونه کړ.

محمد امین د علاقه دار عبدالکبیرخان ورا ره د زراعت په کوته کې پټ شوی ؤ، مجاهدینو را وېوست او لاس یې تړلی ور واړول، یو بل خلقي چې تراب نومېده کورته تښتېدلی ؤ، مجاهدینو را وېوست او اعدام شو، لنډه دا چې د شپې نیمو بجو په شاؤ خوا کې علاقه داري بشپړه د اسلام د لارې توریالیو په لاس فتحه شوه او معلم امان خان «کوچي» د علاقه دارۍ پرسر شین بیرغ ټینګ کړ.

مجاهدین ټول روغ رمټ وو او هیڅوک شهیدان نه شول په علاقه دارۍ کې څوتنه عسکر او د احصایې مامور د چک اولسوالۍ د دورانخیلو او سید ونکي مسلمان ؤ اکبر چې ټول په دې ګناه شهیدان کړل چې پر مجاهدینو یې ډزې نه کولې، په دې ډول

د جوزا د میاشتې «۱۵» د دایمرداد و د علاقه دارۍ د فتحې نیټه زموږ د هېواد د ویاړلي تاریخ کرښو ته وسپارل شوه، او تل به د یوې ژوندۍ حماسې په څېر زموږ د مؤمنو او غیرتمنو هېوادوالو په ذهن کې ژوندۍ پاتې وي، له همدې ورځې څخه ترننه د خدای ج په مرسته بیا د دایمرداد و علاقه دارۍ د کمونستي بریښوله واک څخه خلاصه ده او که خدای ج کول تل ترتله به د کفر او کمونیزم سیوري بیا ورباندې ونه لوېږي

پخوا مو یادونه کړې وه چې د جوزا د میاشتې په «۱۳» مه نیټه د چک له اولسوالۍ څخه لس موټره وسله وال کسان رسمي محلي کمونستانو او سازمانیا نو [سره] له هزاره ورونو سره د جګړې په نیت علاقه دارۍ ته راوستل شوي وو، هغوئ د قطب په د سبسته کې اچول شوي وو تر څو د علاقه دارۍ له سنګر سره یو ځای د هزاره جاتو په لور وړاندې ولاړ شي کله چې پر علاقه دارۍ برید وشو، هغوی چې اکثرًا په زوره راوستل شوي وو او د خپلې خوښې کسان پکې ډېر کم وو تول په همدغه شپه بیرته وتښتېدل او په شپه شپه کې تیت پرک شول، ان تردې چې ځانګیان او د دفاع د کمیټو غړي!! چې د جنګ او جګړې ساعت یې نه ؤ لیدلی د علاقه دارۍ له ږزا و ږوز

سره دري پر ځای چي د خپلو انقلابي او کلابند و ملګرو! مرسته وکړي د نیښتي لاره یې ونیوله او د خپل سرساتلو غبرګ یې وغوښت نوول وتښتیدل.

په علاقه داري کي (۴۰) میله وسله د (۱۷۰۰) میله وسلې څخه پاتي وه او د علاقه داري پرسونل او خلقیانو څخه تر لاسه شوي وسله ترسلو مبلو پوري ورسیده چي د بخښک کلي عبدالصبورخان په کور کي کینبودل شوه، ترڅو په مناسب فرصت کي په مستحقو مجاهدینو وویشل شي.

د لومړي ځل لپاره د جوزا په (۲۰) مه نیټه د اولس په خوښه د علاقه داري اداري تشکیل او شورا جوړه شوه چي لاندي کسان یکي وو:

مرحوم عبدالکبیرخان د شورا رئیس او ملک عصمت الله خان د دفع مرستیال، شهید بسم الله خان عمومي قوماندان، عبدالصبورخان یې د مرستیال په توګه او معلم محمد امان ،کوچي، د مالي امورو مسئول وټاکل شول.

خلیل الرحمن ،قاضي زاده، غلام دستګیرخان، عبدالحلیم خان د قطب خیلو څلي مرجان، حاجي محمد هاشم او عبدالمالک د حاجیکه کلي، سرنیدل د کوبج کلي، قاضي نبات د یوکي او بخبلر نواب، غلام درویش عمر، سرمعلم عبدالغني خان، ملا رحمت الله او حاجي

منگل د ورانیو) مولوي دین محمد او گلون د گلي، محمد ولي خان دسنګوي ((ملاجان الدین" ملاجان گله غلام درویش د چنگی)) محمدی د کلاخ، مامور عبدالجمیل او ملک عبدالله د نازک خیلو، محمد دیدار د صدوخیلو خواجه عبدالغفور د خواجگانو، ملاگل محمد "قصاب" د حکیم خیلو ملاجمعه گل د انکو او ملاجنت گل د تیري کلي او سید ونکي دد غه شورا غړي وټاکل شول.

دغه (۳) کسیزې شورا تر تنو لو د مخه د علاقه دارۍ تحفه ولجه شوي ټوپک پر مستحقو مجاهدینو و ویشل او وروسته پې دسیمی لپاره د جهاد د اداري سیستم په کار پیل وکړ.

د علاقه دارۍ او ولسوالۍ له بریالي ټوون ټحفه وروسته کمونستی دولت دخپلو وژل شویو ملګرو په کسات کی د علاقه دارۍ په "بخشک علیا" "موکه" او "حاجیکه" کلیو سخته بمباري وکړه، د "بخشک" په کلي کې د ملا سورګل نومی ستوګه ړنده شوه او یوبل تن ملا دوست محمد د حق په سنګر کې مظلومانه شهادت استقبال کړ، په دې ډول د علاقه دارۍ مجاهدینو مورچل د بې ګناه شهید په وینو رنګ شو.

داؤد د پاټوت د پراخ ډګر دیوې خندې لند جریان وګوروچې دد غه ویاړلي سنګو په بلنه خندره کې څه ډول حماسې د تاریخ پا نو ته سپارلې دي؟!!

# په ولسوالۍ کې د تحریکو ولیش او پاڅون

په ولسوالۍ کې هم د علاقه دارۍ په څېر د مخه تر دې چې د تحریکو ونیښې پیل شي د خلقیانو جبر او تیري د مسلمانانو چیغې تر آسمانه رسولې وې د همدغه تیري او وحشت په لنبو کې د اسلامي پاڅون فکر او اندیښنه هم مخ پر تکامل او تجلي وه، د لته هم ځینو سپینږیرو د اسلامي رسالت په درک کولو سره د اسلامي نهضت داعیۍ ته لبیک ووایه او د یوه سرتاسري قیام پاره یې په خلقو کې د خلق او پرچم پرضد پراخ فعالیت او تبلیغ پیل کړ، په دې ډول له دولت څخه گوښه شو یو څو کسانو ته د فعالیت سره موکه په لاس ورغله، د اسلامي تحریک له مرکزي حوزې او د رهبرۍ له مرکز "پېښور" سره ملنگ حاجي تورگل، محمد امین ماما، الحاج تاج الدین

انجنیر[له] شیرزاده ولسوال ابن یمین، عبدالغني او ځینې نور کسان په تماس کې وو، چې دغه ورونو لومړی په سیمه کې ځانګړې ځانګړې د فعالیت ساحه درلوده، وروسته د غه ساحې سره ونښلول شوې او په یوه قوماندهٔ پر برېالي پاڅون سرته ورسیدې. چې دلته یې د نیمې تشریح بیاره جلا جلا تر غیرني لاندې نیسو.

## دخوات بیکسمند او اله سنګ حوزه

د ملامحمد بذیر ځوی ملنګ چې له پیښور نه د حوت په میاشت کې سیمې ته راغی او په سیمه کې یې د علیشې، انبوخاک، اله سنګ، بیک سمند او ګوړه له ځنو کسانو سره په فعالیت پیل وکړ، زیادونې ورده چې کوم کسانو چې له ملنګ سره ارتباط پیدا کړ، له هغه ځنې یې پخوا هم له حزب سره اړیکې درلودې خو ملنګ ورته د مرکزیت حیثیت غوره کړ، په دغه

---

له وړومبی یې په مرکزي حوزه کې له حزب اسلامي سره تعهد درلود او د حزب له خوا سیمې ته واستول شو وروسته بیا د حرکت انقلاب اسلامي تنظیم ته د لاړ او د چک د ولسوالۍ د حرکت عمومي قوماندان وټاکل شو. په ۱۳۵۸ کال د سرطان په میاشت کې په پغمان کې شهید شو.

کړه کې مدیر محمد شریف. علا لیتار، ملک امیرخان، حاجي محمد ظاهر حاجي غني، ملک محمد موسی، ملا نیاز محمد شهید، سخي جان شهید غلام علي، ملک عبدالقیوم، حاجی محمد امان شهید، ملک عبدالرؤف او څنو نورو کسانو کار کاوه، په دغه ډله کې زیاتره کسانو له حکومت سره دهسې په چل شپې سبا کولې او ځانونه یې له حکومتي مامورینو او عسکرو نه گوښه ساتل، ددې کسانو د غونډو ځای به زیاتره د بیک سمند په غره یا د ملک موسی، حاجی غنی او یا کوم بل تن په کورکې ؤ.

دهغه خلقو څنو کسانو چې د حکومت له ستم او اختناق څخه په تنگ شوي وو، پر ولسوالۍ د حملې لپاره تصمیم ونیو او غوښتل یې چې ځانونه وسله وال کړي او د حمل د میاشتې په "۱۵" مه پر ولسوالۍ حمله وکړي، خو څه وخت وروسته چې په وسله پیدا کولو بریالی نه شول د غه پروگرام بې نتیجې پاتې شو.

کله چې په ولس کې د توپکو د ویشلو آوازه خوره شوه د ولسوالۍ حمله د توپکو تر ویشلو پورې وځنډول شوه دد غه موضوع په باب غونډه د سجاع په کلي د ملک غوث الدین په کور کې وشوه، او تصمیم و نیول شو چې په اولس کې خلک

باید د ټوپکو اخستلو او حکومت ته یې وسپارلو ته وهڅول شي.

هغه څه چې آوازه وروسته په حقیقت بدله شوه، حکومت د دې موضوع په باره کې هیئتونه راواستول او بالاخره وردګو د چک او سیدآباد او لسوالیو او دایمیرداد او چخنتو علاقه داری

خلکو ته یې په زرګونو میله ټوپک ورکړل او په خپل لاس یې ځان ته ګور وکینده، د چک اولسوالۍ ته د تور په «۲۸» مه نیټه

«۱۴» لارۍ ټوپک او کارتوس راوړل شول چې له هغې سره یو ځای یې د پنجشیر او خنج ترانسپورت تر «۵۰» عرادو

مینی بوسونو او لاریو پورې په زوره راوستل ترڅو وسله وال خلک د هزاره ورونو سره د جګړې میدان ته ورسوي.

## د عربانو او آبکنار حوزه

د خلقي ضد حکومت په وړاندې په دې برخه کې هم پخوا

پټې فعالیتونه روان وو چې په عمومي توګه د شهید محمد ولي ځان

لخوا تنظیمیدل، کله چې محمد امین ماما له پیښور نه را غی د سیمې

او مرکزي حوزې د رابط په حیث یې په فعالیت پیل وکړ وروسته

بیا ملنګ، عبدالغني، حاجي تاج الدین، حاجی شرف الدین هم په

پراخو فعالیتونو لاس پورې کړ کله چې ملحد رژیم پر خلکو د ټوپکو

ویشلو مسئله را منځته کړه د خلکو پټې لید فعالیتونو نه زیات شي.

شوې او د حکومت ضد فعالیتونه له آبکدار ه ترنیک یا یقول

پورې پراخ شول او په یوه ګډه تصمیم یې د ټولو پکو افسرانو او د

جهاد پیل ته ملا وتړله، په آبکدار کې ملا احمد نبي، ملا ګلوجان

او ځینې نور کسان او په نیک یا یقول کې علاوه پر ملا شرف الدین

چه هلته ملا امام و، غزانه دار عبدالاحمد خان او لسوال ابن یمین

مستوخان، ګلو، شاه ولي خان، نعیم خان او ځینې نور کسان وو

چې په اولس کې یې د پاڅون په باب خلکو ته روحیه او مشوره

ورکوله.

## د خوات علیا سیبکي او ګوردن مسجد حوزه

په دغه حوزه کې هم ځنو کسانو هڅه کړې چې مرتد رژیم وسلې

ووژنې د خلقو سره پټې پټې مفاهمې درلودې او د اسلامي

پاڅون لپاره یې زمینه برابروله محمد قاسم اخوند زاده مولوي

عبدالحلیم «سیبرګه» اله داد او ځنو نورو مشرانو په برخوات

سیبکم او ګوردن مسجد کې د فعالو کسانو له ډلې ټڅه دي چې

وروسته بیا د دغه حلقه د عربانو او کوز خوات له حلقې سره

یو ځای شوه.

په اولس کې د پټو فعالیتونو لمن پراخه شوه په هغه

حساس پړاو کې حکومت په چک ولسوالۍ او دایمرداد و علاقه دارۍ

کې دجوزا په «۶» مه نیټه په یوه ورځ د توپکو ویشل پیل کړل، که څه هم لومړی خلکو د توپکو اخستلو ته په د ې زړه نه ښه کاوه چې ممکن له وسله وال کیدو سره یې په موټرو کې واچوي او د هزاره ورونو سره یې د جنګ په میدان کې کوز کړي، خو وروسته بیا هرڅوا د بیره کوله چې زر تر زره توپک ترلاسه او ځان جهاد ته تیار کړي.

پنځمه ورځې له سهاره ترماښامه په ولسوالۍ کې د خلقیانو ترنظارت لاندې د توپکو ویش په عادي ډول جریان درلود بیله دې چې کومه پیښه رامنځ ته شي هرڅوا په نوبت سره یو میل توپک او (۲۰) ګنتې کارتوس ترلاسه کول.

## د توپکو تسبتول، او پر ولسوالۍ حمله

د ویش په شپږمه ورځ دجوزا په «۱۲» مه نیټه د آبکذار خوات او اله سنګ خلک د شیرین دل خان، فتح الله خان، ملک خانصاحب، ملک عبدالرؤف او ځینې نورو مشرانو په ګډون د توپکو اخستلو لپاره راغلي وو، په دې ورځ د نورو ورځو پر خلاف د ولسوالۍ منسوبینو او خلقیانو، په دې اصرار کاوه چې څوک چې توپک ترلاسه کوي، تول به په موټرو کې سپریږي او د هزاره ؤ سره جنګ ته ځي.

د ولسوالۍ په ښاونواکې یې سازمانیان، عسکر او دلیسې انضباطان په دې ګومارلي وو چې هیڅوک به د ولسوالۍ له ساحې څخه د باندې نه پرېږدي چې ووزي او دکورونو ته ولاړ شي له غرمې وروسته د ولسوالۍ او لیسې ټول خلقیان «عبدالرقیب تو ره د ښمباځې لیسې مدیر، اختري دلیسې د سازمان منشي محمد سید د ولسوالۍ د سازمان منشي هراتي ولسوالۍ» متاسفانه نوم یې ما پیدا نه کړای شو، سمیع د فراموز زوی، ډاکتر قاسم، فضل محمد او نورو خلقیانو د اولسوالۍ په انګړکې لاندې یات پر نظم او تهدید زور واچوو، ولسوالۍ خلکو ته یو مُل بیا بلنه ورکړه چې باید ژر تر ژره په موټرو کې سپاره او د هدف په لور روان شي بیا یې د خلکو د تشویق لو لپاره د اله سنګ له مرحوم شیرین دل خان څخه غوښتنه وکړه چې د میکروفون له لارې خلکو ته خبرې وکړې او د هزاره ؤسره یې حجګړې ته چمتو کړي، شیرین دل خان چې میکروفون ته ورغی الله اکبر او څلور یار چیغه یې وکړه[۱]، له

---

[۱] ځنې کسان د الله اکبر او چار یار نارې د آبکدار په محل هدینو وراړوي. خو تر کومه چې زما ذهن ته خبره رسیدلې ډیر کسان شیرین دل خان تائیدوي.

هدغه چيغې سره د ولسوالۍ شاوخوا وضع بالکل بدله شوه، دغه تکبیر هاته راغونډ شوي کسانو ډیر په شور او زوږ بدرګه کړاوله دې سره سم هرڅه له ولسوالۍ نه د خپل کوراوکلي لخوا ونیوه او وتښتیدل، هراتي ولسوال د ولسوالۍ پر بام د برنو ماشینډار موظف عسکر ته داور امر وکړ خو هغه یې د غه قوماندې وانه خستله وروسته بیا نورو خلقیانو داور بل پر بدو عواقبو وویرا وه، په هرصورت هدغه د ټوپکو تښتولو پېښه د اسلامي پاڅون پیلامه وه، د شاوخوا سیمو او درو خلک ټول غونډونو ته وختل او دا ولسوالۍ او علاقه داری لارې ټولې سیمې د مسلمانانو ترڅارنې لاندې راغلې، د ولسوالۍ منسوبین او خلقیان خو ترماښامه د مسلمانانو د حملې په انتظار وو، خو وروسته بیا ډاډه شول چې دا یوه ناڅاپي پېښه وه او د حکومت پرخلاف کوم منظم پروګرام او عمل ترنظر لاندې نشته کیدای ځکه له خلکو سره بیرته مفاهمه وشي او د حکومت مرامونو ته غاړه کیږدي.

سیاته په لیسه کې خلقي معلمانو زده کوونکو ته وویل چې په اولس کې خپل پلار، ورور او کلیوال چې ټوپک تښتولي پوه کړې چې بیرته راشي، له حکومت سره خومقابله نشي کولای ټول سازمانیان

هم په ولس وگرځیدل خوځم یې لولاسه نه کړای شول، نه پوهیدل چې د دوی تېول شوم موامونه به په نیمه لارکې پاتې او بو بیک او دوی به پخپله دکونیزم دخیالي جنت په ارمان د مسلمانانو انتقام په لښوکې ساه ورکوي.

د تهوکو د وېشلو په جریان کې یوځل په اولس کې آوازه خپره شوه چې هزاره ګان په اولسوالۍ او علاقه دارۍ برید کوي دغې آوازې ترشا هم دحکومت پټ لاس ؤ او په همدغه بانه ئې خلک له هزاره ؤ سره جګړې ته چمتوکول ددې لپاره چې دغه آوازې په ولس کې ډېر زور ونیو دسیمې مشران یې هم اندیښمن کړل او ددې تصورکیده چې ممکن هزاره ګان په دې خیال پرمونږ یرغل راوړي چې مونږ وسلې د هغوی پر ضد اخستې او زمونږ له نیت او مرام څخه نه دي خبر ددغه کار د تدبیرلپاره د جوزا په «۸» مه نیټه حاجي عبدالباقی، ملک قیوم، ملک غوث الدین، ملک محمد موسی، حاجی عبدالغني ملنګ، مدیر «عدالتیار» مدیر نیاز محمد شهید، سخي جان شهید او څو نورو کسانو دحسین کلا په غره کې غونډه وکړه چې په نتیجه کې مدیر محمد شریف «عدالتیار» ملنګ او سید کمال د علاقه دارۍ او هزاره ؤ ورونو سره دارتباط او اطمنان پاره

واستول شول، هغوی سپه په ګوره کې ښیوه کړه او سباته یې
د دالان په کلي کې د عبدالکبیر خان په کور کې له اولسوال ابن یمین
ضابط محمد عثمان او حاجي نورګل سره وکتل، د هزاره ؤ ورونو
سره د تفاهم او پر اولسوالۍ او علاقه دارۍ د حملې په باب د دې
نتیجې ته ورسیدل چې له هزاره ؤ سره به د علاقه دارۍ ورونه
اړیکې ټینګوي او هغوی ته به اطمینان ورکوي چې ورډګ به
هیڅکله هم د مسلمان ورور پر خلاف وسله پر اوږه نه کړي
او د اولسوالۍ او علاقه دارۍ د یرغل په باب فیصله په دې شوه
چې که له هر لوري شرایط برابر شول بل به خافا ورسره ملګري
کیږي او اولسوالي او علاقه داري به دواړه په یوه ورځ
له منځه وړل کیږي، د مدیر عبدالبنیاء او کوثر ترمنځ
(منهه «سیب») شفر وټاکل شو چې په دې شفر به یو او
بل لوري ته د حالاتو په باب معلومات ورکوي.

همدارنګه عبدالبنیاء ته حاجي «کوثر» د مرکزي حوزې
له یوتن فعال مجاهد شهید قوماندان میراجان خان سره
د تماس نیولو شفر او نخښه ورکړل شوه او د ورډګو د
حالاتو په باب یې هدایت وغوښت، عبدالبنیاء او حاجي
محمد ظاهر د جوزا په (١٤) مه کابل ته ولاړل خو له میراجان خان
سره په لید و بریالي نه شول په همدغه ورځ چې بیرته اله سنګ

ته راغلل له کوټو سره پرتیا کلي شوي شفر دملي نیته دجوزا
«۱۵» مه شپه ورته نیوول شوې وه.

ځنکي مو یاد ونه وکړه چې د جوزا په «۱۲» مه نیټه خلکو
د تکبیر په شعارونو سره د ولسوالۍ څخه د خپلو کورونو په لوري
ځنه وکړه او تپول غرونو ته وختل، هرڅوک د خپل کور کلي لنډه
غره ته ځانې رساوه په ټوله سیمه کې د خلقي حکومت پر خلاف
د پاڅون لیکې مزبوتې شوې، د سیمې د هر وګړي په ذهن کې
د خلقیانو څخه د کسات لنبې چورلیدې، خو بې دینو خلقیانو لا
د خپلې سلطې او ویادارې خوبونه لیدل او د غه وضعې ته یې لا
په داسې نظر کتل چې ګوندې د ځغوې د شومو آرزو ګانو او
ناوړو هیلو وروستۍ سلګۍ دي.

په هم دغه ورځ د قوتک کلي[1] او سید ونکي محمد یاقوت نومې
یوتن خطرناک خلقي چې عبدالربي نومیده په کلي کې د نوریې په ګوزار
وواژه او په دې ډول یې خپل نوم د چک او ولسوالۍ د لومړۍ
غازي په توګه د تاریخ پاڼو ته وسپاره.

ماښام مهال چې تیاره په ځوریدو وشوه د چک ولسوالۍ د
مختلفو درو ترمنځ دا ریکو او تفاهم لپاره د هرې درې مشرانو

---

[1] په برخوات کې له نورا خیلوته بر کلي دي.

له نورو سره د اړیکو لپاره یو بل ته د اسلامي پاڅون په باب مشورې وکړې په همدغه شپه د بیایي د کلي وسله وال گروپ چې د ملک محمد صاحب په مشرۍ تر څنګه ختلي و، د سیاب له مشرانو ملک محمد شریف، «دراني» سره د لیدو او مشورې لپاره سیاب ته روان شو، د «بورت» په برخه کې د تلفون پایې چې د علاقه دارۍ او اولسوالۍ ارتباط يې تنظیمولو وغورځول شوې او مزي يې پرې کړل سیا ته اختري، سمیع، عبدالرقیب، «نوده» او...... د تلفون د بیا ارتباط لپاره په جیپ موټر کې د علاقه دارۍ په لور روان شپه يې په گوده کې تیره کړه او د جوزا په (۱۵) مه د سرتیرو مجاهدینو د مرمیو ښکار شول چې تفصیل يې مخکې د علاقه دارۍ په جریان کې تیر شوی دی.

د جوزا په «۲۳» مه نیټه د چک اولسوالۍ خلقي منسوبینو او خلقي دارو مارانو له شاوخوا کلیو څخه په زور او زاریو د دوکسو ونو په شاوخوا کې وسله وال کسان راټول او په لسو عرادو موټرو کې يې د علاقه دارۍ په لور واستول ترڅو د علاقه دارۍ له خلکو سره یوځای د هزاره وو سره جنګ ته ولاړ شي، د همدغه کسانو په تګ سره پر علاقه دارۍ او ولسوالۍ د یرغل لپاره تصمیم گړندی شو، د علاقه دارۍ ورو ستو

پریکړه وکړه چې د جوزا په « ۱۵ » د شپې په (۱۲) بجو به پر ولسوالۍ او علاقه دارۍ یرغل کیږي کله چې ملک امیرخان ، حاجي غني او نورو کسانو ته د حملې په باب د حاجي نورګل او عبدالجبار ترسنگه پرتیا کلي شوي شفر د حملې تاریخ وښودل شو سمدستي یې له اله سنګ ، علیشي ، بیک سمند ، خوات او ابنو خاک څخه خپلو رتباطي کسانو او غوښتل ، د جوزا په (۱۴) مه د تینګ په کلي د حاجي غني په کورکې ملک امیرخان ، حاجي غني ، مامور حبیب الله ، ملا شرف الدین د عریانو او سیدونکي ، شهید جلات خان د ګوډه محمد یاقوت د تینګ ، ګلو ، شاه ولی او صوفي « »

د نیک پا یقول ، ملک عبدالرؤف ، او محمد امان د خوات او سیدونکو غونډه وکړه . له علاقه دارۍ څخه د راغلي خبر په باب یې له یولړ خبرو اترو وروسته د ولسوالۍ د حملې په باب ښودل شوې نیټه تائید کړه او د غونډې ګډونکو ونکو د سیا سپاره ترماښامه د حملې د ترتیباتو نیولو پاره دسلې ځلې پیل کړې د خوات ملک عبدالرؤف شهید ته د نده ورکړل شوه چې له قاسم آخوند زاده سره وویني او د حیک او سید آباد — او لسوالیو ترمنځ د تلفون پایې نړوي او ارتباط یې سره جلا کړي .

د اله سنګ او ابنو خاک ملکو ته د محمد شریف ، عبدالجبار ،

محمد ظاهر او غلام علي په مشري د کابل د سرک او تلفوني ارتباط غوڅول ورو سپارل شول، د خوات، بیک سمند، او علیشي مجاهدینو ته د نورو پورتنیو درو په ګډون د ولسوالۍ د حملي او کلابندۍ وظیفه ورکړل شوه.

مجاهدین د تاکلي وخت په انتظار وو او نهریوه په ډېرا خلاص او مینه د قربانۍ لپاره چمتو کاوه د جوزا په «۱۵» ماښام بهادرکو د عدکلي د نیک پا یقول عربانو او ښکتینو مجاهدینو د یو ځای کیدو ځای تاکل شوی و، د خوات په دره د شپې د نور پیخول له غورید و سره سم له علیشي او بیک سمند د تاکلي شوي ځای په لور مجاهدین وخوځیدل په تاکلي شوي نیته د نیک پا یقول او عربانو مجاهدین راونه رسیدل.

دلته د نه خبره هم دیادوني وړده چي د نیک پا یقول له (۲۱) تنو او د عربانو له دووتنو «ملا شرف الدین او مامور حبیب الله» پرته د ولسوالۍ له پورتنۍ ولس څخه مجاهدینو په لومړي برید کي ګډون ونه شو کولای، دا ځکه چي د قیام څخه څوا د اسې یوه واحده او منظمه رهبري او کتله نه وه منځ ته راغلي چي د ولسوالۍ ټولي درې په بشپړ کنټرول او اداره کي راولي دد غه متفقو رتیا او واحدې رهبرۍ نشتوالی هم د ملحدرژیم تر اتکل

نهایت فشار وُچې د اسلامي تحریک د کار ساحه یې د یرہ تنگه کړې وه او د دی زمینه چا نشوای ترلاسه کولای چې د ولسوالۍ په سطحه دې پراخ فعالیت وکولی شي، د اولسوالۍ پراخه ساحه او طبیعي جوړښت هم چې په ځو بېلو بېلو دروباندې بېله شوې وه د واحدې قوماندې او مرکزیت سترمانع وو، البته یکه محکمې مو چې وویل د اسلامي غورځنگ میارنه ونه لیا نو آنام ولسوالۍ او علاقه دارۍ په سطحه تفاهم سره درلود او د حملې نیته یې یوه انتخاب کړه، خو په اولسوالۍ کې یوازې د ومره وشول چې له علاقه دارۍ سره په یوه نیته د ولسوالۍ ترلاسه برخې کم مجاهدین برخه واخلي.

له دغه حملې څخه وروسته بیا د ا ولسوالۍ په ټولو جهادي پروگرامونو کې مرکزیت او واحد اداری نظم رامنځ ته شو او دغه نیمگړتیا یا نکل له منځه ولاړه.

اوس به راشو اصل مطلب ته، د حملې نیته د شپې (۱۲) بجې ټاکل شوې وه، خو څرنگه چې د اد مسلمان ولس لومړنی قیام او د رژیم پرخلاف وسله وال پاڅون شمېرل کیده د کوړې په کلي کې یو ځل بیا مجاهدین سره غونډ شول او په دقت یې د ولسوالۍ د حملې نقشه جوړه کړه، د ولسوالۍ د مقاومت برخونه

او مورچلې يې په نښه کړې او د هغو له پاره يې مناسب ګروپونه او مجاهدين وټاکل د حملې نېټه د «۱۲» بجو څخه شا ته وټاکل شوه د ملک اميرخان او حاجي محمد امان د ولسوالۍ جنوبي او ختيځې خواته د سيند او څوارو شا فصل په منځ کې سنګرونه ونيول، د نيک پاليتي مجاهدينو ته «ملا شرافت الدين او مامور حبيب الله د عربانو سره ورسره وو» د ولسوالۍ شمالي پلوته د غني خيلو په کلي کې د صابرنو ملېشې او ولسوالۍ له پاره سنګرونه ورو ويشل شول.

څنګه مو يادونه کړې وه چې د اله سنګ او انبوخاک مجاهدينو ته د سرک او د تلفون د مزي پرېکولو دنده ورسپارل شوې وه، ما زديګر د «۸۰» تنو په شا و خوا کې مجاهدين د مدير محمد شريف او حاجي محمد ظاهر په مشرۍ د انبوخاک په لور و خوځېدل، د ګلدانو د کلي په برخه کې يې د سرک غوځولو پرېکړه وکړه د هغه کلي څخه يې د بيلو تو او کانګو نو پاره کليوالو ته خبر ورکړ د غه کلي يو تن مشر حاجي سلطان جان مجاهدينو ته د سرک غوڅولو مشوره نه ورکوله او ويل يې چې څو ځلې پر ولسوالۍ حملې آوازې دروغ شوې که سرک غوځ کړو او پر ولسوالۍ حمله ونشي خلقيان به د کلي مسلمانان وځوروي

وروسته پر دې خبره پرېکړه وشوه چې د شپې د ولس بچې د حملې نیته تاکل شوې، کله موچې پر ولسوالۍ ډزې وا ورېدې نو دلته په سړک ټانګو، کله چې پر ولسوالۍ د ولسو بچو څخه وروسته ډزې چا وانه ورېدې نو د اله سنګ مجاهدین هم بیله دې چې سړک خراب کړي هلته لنډه په عونډ یو کې پاتې شول .

د شپې په ۳ بجو مجاهدینو د ولسوالۍ په شاوخوا کې خپلې ټاکلې شوې مورچلې ونیوې او ۱۵ دقیقې وروسته د سرپوښي د کلي امیرخان نومي مجاهد پرخپل بوړي لومړنۍ ډزې وکړې او له ډزو سره سم ټولو مجاهدینو ولسوالۍ په لور د خپلو بوړیو خولې ورسمې کړې. د زرنا د سنګر او پولادي خنجرونو ګولۍ د تیارو خیرنې وڅیرلې او د حق د قافلې یون یې د سبا وون په لوري نږدې کاوه، د سیمې نرا وښځې ناړه ووار چې له ماښام نه تر نیمې شپې د هغو شیبو په انتظار ناکرار په خپلو انګړو کې تاویدل د با مونو سر نه وختل او د مجاهدینو له تکبیر ونو او ډزونو سره یې خپلې زاری او دوعا ګانې د خدای ج دربار ته ورسره ملګې کړې، سیمه ټوله شور په سر واخسته او هر یو ته

د مرتد رژیم دلندنه غرو د ورکاوي تیاره په عجز او نیاز
د خدای ج په لوري د مظلومو ملاسونه اوچت وو.

شپې ورو، ورو د رڼا په لور ګام واخست چې د افق
پرلمن د خدای ج په لاره کې د چک اولسوالۍ د لومړني شهید
"روښندل" وینوا نعکاس ومونو، ورپسې بیا پټش لاسي
"اولیا" تنها ترد خلقیانو پرګولیو غلبیل غلبیل شو او د خدای ج
په لاره کې یې د شهادت ویاړ تر لاسه کړ، په لومړي سر کې څو
یوازې وسله والو مجاهدینو پر ولسوالۍ د زښت پیل کړی، څو
د دوزا او دوزله اورید وسره سم د سیمې اتش لاسو مسلمانانو
د خدای ج په لار کې د شهادت په تکل د جګړې د میدان په لور
ودانګل، لا خبره نه وه وشوې چې صابر نومي ملیشه د ولسوالۍ
په لور وتښتیده او څلور تنه مسلمان پوځیان د غني خیلو په حاکمه
مورچه کې مجاهدینو ته سلامي شول، ورپسې ملا غلام رسول
د غني خیلو او سید ونکي په سپینه ږیره له کوره یو ګیډي پترول
راوړل او د ملک امیرخان مجاهدینو د ولسوالۍ کوټو ته اور
ورواچاوه دا ورله لنبو سره سم ولسوال او نور خلقیان
یوې کوټې ته ابیاره شول او پاتې نورې ټولې کوټې او ورلنبو او ونښتې
هراني ولسوال چې یو خطرناک خلقي ګڼل کېده تر څو نورو خلقیانو

سره سخته مقابله پیل کړه هغوی چې له ژوندۍ لاس مینځلي وو نو یې د ولسوالۍ ښارانوال «گلاب الدین» په دې گناه چې مسلما دی له څو تنو مسلمانو عسکرو سره شهیدان کړل او په خپله یې پر مجاهدینو گولۍ چلولې او خپلې زړینې ورانگې نوې پر څوات غوړولې وې د ښار خوا کلیو نو رسیدلي وو ما شوما نو د مجاهدینو دوروستي بري د ولسوالۍ د فتحې "خبر اوریده و په تمه د هغوی لارې یې څارلې چې د ا تشکل پر خلاف له کابل څخه دوه زره پوښونه ولسوالۍ ته را ورسیدل او سمدستي یې په مجاهدینو برید وکړ.[1]

د ټانکونو ترور رسید و مخکې «شهید عبد الجلیل» د لومړۍ ځل لپاره د ولسوالۍ د سلاکوټ ور په دیوه ور مات کړ او سمدستي یې د وسلو پر را ایستلو او ویشلو پیل وکړ د ټانگونو ترراتگه

---

۱ کومو مجاهدینو چې د سړک بند ولو او تلتون مزی پریکولو وظیفه ورکړل شوې وه، هغوی سړک بند نه کړ، له بلې خوا مجاهدین له جگړې سره نا آشنا وو، کومه د سړک پریکولو نقشه چې یې درلوده وروسته بیا ثابته شوه چې د ټانگونو د بندید و او ایسارید و نه وه او هغو ته ټولو لارې سړک وه.

پوره د ولسوالۍ په سلاکوټ کې موجود ټول ټوپک را واېستل شول او په هماغه ځای یې ناپاتره په ټش لاس مجاهدینو وویشل شول، په هم غه سهار چې د ولسوالۍ د کلابندۍ کړنه ډېره تنګه شوه حاجي محمد امان او ځوتنو ورسره مجاهدینو د باباکلا په کلي کې څو تنه خلقیان ونیول او سمدستي د خپلو عملونو په سزا ورسول شول، د تیانګونوله راتګ سره د ولسوالۍ کلابندي ماته شوه او مجاهدین خواو شا غونډیو ته وختل په هم غه دوو تیانکو نوکې لومړی د ولسوالۍ ټرونډی پاتې خلقیان او د فنو دچک هوتیل ته چې په نسبتاً حاکمه غونډۍ واقع ؤ، نقل شول او په همغه ځای کې یې خپل امنیت ونیو په هم غه ورځ ملا غلام رسول او محمد سمیع د غني خیلو کلي او سید ونکي چې له مجاهدینو سره یې د پټرو لومړنۍ کړې وه، سربېره پردې یې د ولسوالۍ په سوځولو کې ونډه درلوده، د ولسوال له خوا ونیول شول او بیا دواړه په شهادت ورسول شول «ممکن صابر نومي خلقي یې د غه فعالیتونه ښودلي وي»

په دې ډول د یوې شپې لپاره د ولسوالۍ محګوره پای ته ورسیده، خو سبا ته د جوزا په «۱۶» مه بېرته مجاهدین ترې

دا ناوُ شول اولسوالي سیرته د کلکي کلابندۍ لاندې راغله او آخوت کې مجاهدینو مرکز ونیو،

د تهوپکو ویشلو په ورو ستنۍ ورځ د جوزا د «۲۲» مه پنځواله دی چې خلک تهوپک له اولسوالۍ څخه وتښتول او د آکتو قاسم د نیک پا یقول درېا ته د خپلو انو وسله وال کولو لپاره په یوه میني بوس موټر کی «۵۰» میله تهوپک او کارتوس یوړل چې پر اولسوالۍ کاله حمله وشوه نوموړی په نیک پا یقول کې پاتې شو وروسته مجاهدینو هغه ونیو او د شرعي محاکمې لپاره «بوټ» ته را وستل شو او وروسته بیا اعدام کړای شو.

---

# په سیمه کې د خلقیانو انقلابي اعلام او تصفیه

کله چې مجاهدینو په "بوټ" کې د اولسوالۍ د کلابند ساتلو بیا ره مرکز ونیو پر ولسوالۍ د کلابند د ساتلو سربیره یې د اولس له منځه د خلقیانو په را ایستلو هم اقدام وکړ، د ولسوالۍ له حملې څخه وروسته د سیمې ټول خلقیان پر خپلو کورونو کې پاتې شول او ویې نشو کولای چې ولسوالۍ ته ولاړ شي، د سیمې مجاهدو مشرانو چې د دوی له موجودیت څخه خبر نیا نرلاسه کوله نو بیا یې سمدستي یو وسله وال ګروپ ور ولیږه او د خپلو عملونو په سزا به یې ورسا وه.

لومړی ځل د جوزا په ۱۵ مه ورځ چې کله په عربانو کې پر ولسوالۍ د حملې خبر خور شو د عربانو او آبکنداو مجاهدین دا بختیار شیرزاده، محمد آصف، فتح الله خان، حضرت محمد، او نور و څو کسانو په مشرۍ په ګډه د عربانو مکتب او یوم تنګی، د نیولو لپاره راوخوځیدل د عربانو د مکتب د خلقي معلمانو

بیاره محمد آصف د بلاق او دولت خان نومي مجاهد ته قومانده ورکړل شوه چې هغوی د دوو لسو بجو په شاوخوا کې د مکتب پر اداره چړې وکړي او زده کوونکي د همدغه ډزو په جریان کې د خپلو کورونو په لور وتښتېدل، د زده کوونکو په منځ کې درې تنه خلقي معلمین هم د بها درخان کلي ته وتښتېدل چې ورو سته محمد آصف او ورسره مجاهدینو ته ژوندي په لاس ور غلل او اعدام شول، له دې سره سم د عربانو مجاهدینو دیوم له تنګۍ څخه را ووتل او د کوټرې په کلي کې یې هم دوه تنه کوښتان د خپلو عملونو په بدله کې ووژل، په سیاب او ګوډه کې هم د قیام په دوو ورمبیو ورځو کې ۱۲ تنه پاغه کوښتان د عدم کندې ته ورټېل وهل شول.

د جوزا په ۱۸ مه له کابل څخه د چک اولسوالۍ د کلانبدی ما نولو لپاره ۸ نوره قوه راغله چې د مدا د کلي په برخه کې د خوات او نیک پا یقول مجاهدینو د ملک خانصاحب او معراج تر قوماندانۍ لاندې د هغې مخنیوی وکړ په همدغه جریان کې محمد منیر آخوند زاده چې نوی له بغلان ولایت څخه راغلی و د بمیا نی د کلي څو تنه سپین ږیري را وغوښتل او د بمبا ئي د کلي د خلقیانو په وژلو کې یې مشوره سره وکړه، بالاخره

له بوت، څخه مجاهدین را وګرځېدل شول او د جوزا په "۱۹" مه نیټه د بمبارۍ په کلي کې "۵" تنه خلقیان چې محمد علم نومی معلم هم پکې و، اعدام شول.

د سیمې خلقیان چې په کورونو کې غلي وو د دغه اعدامونو څخه د خلاصون په خاطر یې له سیمې څخه د وتلو هڅې وکړې لومړی ټول د اولسوالۍ د حملې په سهار کوم خلقیان چې له ولسوالۍ څخه شکسته کلیو او سیدونکي وو او په دغه شپه په کورونو کې پاتې شوي وو، لومړی یې اولسوالۍ ته د تګ اراده وکړه خو چې ولسوالي یې تر کلابندۍ لاندې ولیده نو یې د کابل د سپارلو یو موټر درېست و نیوه او نور "۱۸" تنو پورې د کابل په لور تښتېدل خو د اله سنګ مجاهدینو چې د سړک ساتلو دنده درلوده، د موټر په لیدو یې سمدستي ډزې وروباندې وکړې او نوموړی موټر له خلقي سپاریو سره بېرته سیمې ته وګرځېد چې په دغه موټر کې دوه تنه خلقیان تښتیان شول.

همدا رنګه جلیل نومی مشهور خلقي له دوو تنو نورو خلقیانو سره، چې یو تن د زراعت آمر او بل معلم و، د انبو خاک په برخه کې د مجاهدینو د تېښتې په حال کې ونیول او ځای په ځای ووژل شول.

محمد سید د یمیائي لیسې سرمعلم او د دا ولسوالۍ د رسازمان منشي او یوتن بل معلم هم د سپیلنگ د غا بنۍ د زرین خیلو لوري نه د مجاهدینو د بیدارو پهره وله خوا په چادري کې ونیول شول او وروسته په هغه ځای د خپلو شومو عملونو په سزا ورسول شول، په دې ډول دا ولسوالۍ له حملې څخه تر ننځو ورځو پورې د شلوتنو په شاؤ خوا کې ډیر خطرناک او مضر خلقیان چې د سیمې د مسلمانانو سره یې ډیرې ناوړې کړې وې، د اسلام د لارې سرتیرو مجاهدینو د قرآن په حکم ووژل.

○

# مجاهد ولس ته لمن غوړول

د اولسوالۍ او علاقه دارۍ له بريالي پاڅون او د سيمې د خلکيانو له انقلابي اعدام څخه وروسته موند رژيم په خپله لويه سهوه وپوهيده، هغوی له داسي ستونزې ستونزې سره مخ شول چې د هزارو پاڅون يې ورباندې ډېر کړې، هوکې! هغوی ته د وردګو مجاهد او غيرتي اولس د جهاد په سنګرکې درېدلی و، خود زورآور موېلو نه د هغه يې د چل، تزوير، او زاريو سياست لاد مخه کړ، په يوه اوبله پلمه يې د وردګو څني سپين روبي او څني مرتجع ملکي او عسکری کسان د جرګې او ننواتي په دود د چک اولسوالۍ په لور راواستول چې د دغه کسان يکې شامل وو.

مولوي عبدالله د يوسف خيلو اخوندزاده صاحب»

خدايداد خان «خر» د جغتو اولسوالۍ وسيد ونکی،

ډګروال عبدالحق «دشنی زوی په نوم مشهور دی»

حاجي سيد رسول «دتنګی دری اوسيدونکی دڅو تنو خلقيانو پلار و»

حاجي محمد موسی د شيخ آباد اوسيد ونکی،

کريم خان د چک اولسوالۍ د دوراني خيلو کلي اوسيد ونکی «فعلاً په جمعيت کې محلي قوماندان دی.»

غند مشر کریم خان د سید آباد اولسوالۍ ۲ وسید ونکی.

ملک شیرآقا د جلګې علاقه داری ۲ وسید ونکی.

حاجی حبه ګل د ششی قلعې ۱ وسید ونکی.

مدیر محمد یعقوب د دورانخیلو کلی ۱ وسید ونکی.

ډګروال سید جان خان د چک اولسوالۍ ۲ وسید ونکی او څنې نور کسان.

د غه کسان د جوزا په (۱۸) مه له سنګ ته راغلل او لومړی یې له حاجی شیر زید ل مرحوم سره چې یو معتبر سپین ږیری و وليدل هغو ته یې د حکومت غوښتنه وړاندې کړه چې د وردګو ولسی بیرته له غرونو نه راکوز او حکومت ته تسلیم شی، نوموړی د جوزا د په ۲ ، مه وعده ورکړه چې له مجاهدینو سره به د دغه هیئت د لید، وزمینه برابر وي، په تا کلې نیته پورتني ذکر شوي کسان بیا شاه قلندر ته ورسیدل، هلته مجاهدینو په ډیر اساسی نظم د د غه کسانو سره وليدل او د غه هیئت ته یې د خپل پاڅون په باب پوره معلومات ورکړا و دا یې ورته وښوده چې هغوی د کفر او کمونیزم په وړاندې د مرګ تر پولې پورې د اسلام د سنګر څخه ساتنه کوي او له خلقي او اسلامي ضد حکومت سره یې د سولې او روغې جوړې امکان نشته، د مجاهدینو له

لودي په دغه ځای کې مشهورکسان ملک امیرخان، حاجي محمدظاهر مدیرمحمد شریف، داکتر غلام حضرت "زرغون" او جلات خان شهید دګوړه قوماندانان وو.

د مرتد رژیم دالیوال شوی ننواتي په هدفه ورځ بیرته ځواب شوه او سبا ته د جوزا په "۲۲" تر "۲۵" عرادو پوری ټانګونه او موټر د چک اولسوالۍ ترپولي راواوښتل او د چک پر اولسوالۍ یې تیری وکړ.

# د چک پر ولسوالۍ د خلقیانو لومړی حمله

حملته چې ولسوالي ورو، ورو د مسلمانانو تر کلابندۍ لاندې د
نابودۍ او سقوط په لوري ورنږدې کیده او د خلقیانو جرګه
"ننواتې" هم د مجاهدینو زړونه قانع او پرېکنده ځواب سره
مخامخ شوه، ددې ترشا د تره کي بې دینه رژیم د چک او لسوالۍ او
دا یمرداد و علاقه دارۍ د مسلمانانو اولس د ځپلو او ترټلو پاره
یوه مختصره "۲۵" عراده ایزه قوا را واستوله چې د هغه قوې
سره دوې هلیکوپترې هم وې او د مدا او چک په برخه کې یې پر
مجاهدینو برید وکړې، د جوزا په دوه ویشتمه د ټوپ له دښتې
څخه دا نبو خاک په لوري د قوې ګردونه پورته شول، دلته مجاهدینو
هم د "شاه قلندر" په شا و خوا کې د فولادي تانکونو د مقابلې پاره
فیل ایماني تکبیر له ولجه شویو بوړیو سره یوځای کړي او په
سنګرو کې کښیناستل، یوه ورځ د غه قوه د ملک امیرخان او
شهید جلات خان په مشرۍ مجاهدینو د شاه قلندر په برخه

کې وځنډول، سبا ته په یوازې توپکو د ټانګو نو ایسارول ناممکن وو، همغه وچې له شاه قلندر څخه د چک په لوري د مجاهدینو له ګولیو څخه تیر شول، د میدان د کلي په برخه کې سرک ته محمولې غونډ یې دېرې اچولې شوې وې او د ملک خانصاحب تر مشرۍ لاندې شاوخوا مجاهدینو مورچې ونیوې چې تر ، ، ۲۶ ، ، پورې هماله کلابند پاتې شول، ملک خانصاحب په د غه جګړه کې سخت ټپي شو خو سنګر یې پرې نه ښود، یو بل مجاهد په دغه سنګر کې شهید شو. په وروستۍ ورځ له کابل څخه نوره قوه را غله او له کلابندو ټانګونو سره یې د مجاهدینو د سنګرونو په لوري د زېږ ګړندۍ شوې څرنګه چې قوه زیاته وه او مجاهدینو یوازې توپک درلودل نو یې زور تیر شو او د چک اولسوالۍ په لوري مخه وکړه کله چې له مداد څخه قوه تیره شوه پېړبوتې کې مجاهدینو مرکز پرېښود او سیاب ته واوښتل، په دې ډول د چک اولسوالۍ خلقیان له حتمي نابودۍ څخه د څو ورځو لپاره وساتل شول.

---

له دانیو څخه غلام علي د دغه قوې مخې ته د شاه قلندر په برخه کې مینونه کېښودل خو څه ګټه یې ونه کړه د دغه مینونو لاس جوړ شوي وه خو څه تخنیکي نیمګړتیا یې درلوده روسي ټانګونو ورخلاص نه شول.

په دغه قوا کې د چک اولسوالۍ هغه خلقیان راغلي وو چې په کابل کې اوسیدل او یا یې دلته ځوک خپلوان د مجاهدینو له لاسه وژل شوي وو چې په دې ډله کې عبدالقدیر د ډاکتر قاسم ورور هم ؤ . ډاکتر قاسم په نیک پا یقول کې د مجاهدینو په لاس د بندي کیدو څخه وروسته د مجاهدینو مرکز ته چې په بوټېکې ؤ راوستل شو او دلته د مولوي غلام محی الدین او محمد منیر آخوندزاده په حکم ووژل شو . عبدالقدیر کله چې اولسوالۍ ته چې په هوټل کې پرته وه ورسید سمدستي یې د « بوټې په لوري ټانګونو ته قومانده ورکړه تر څو خپل خلقي ورور لاش پیدا کړي ، په لاره کې عبدالهادي ، منتظم او غلام... د بابا کلا اوسیدونکي نیسي او لاس تړلي یې ورسره ساتي تر مازدیګره د ډاکتر قاسم په لاش پسې له سرګردانۍ څخه وروسته بیرته ناکام د ولسوالۍ په لور را ستون شول او نوموړي کسان یې بندیان کابل ته ورسره یوړل چې تر ننه یې چا ته بیا پته نشته .

علاوه پردې دغه قوې سره راغلیو خلقیانو د چک اولسوالۍ د خوات په سیمه زور وا چاوه چې یا د حکومت سره ملګرتیا وکړي او د یا غي ! کسانو په ایل کولو کې له قوې سره مرسته وکړي او یا وسلې تسلیم کړي چې په سیمه کې د ځنو مرتجو او

ویریدونکو سپین ږیرو او خلقي لنډه غرو په ګډه وهلو ځلو
له آدم خیلو تر آلم سنګ پورې له انبو خاک پرته زیاتره توپک
بېرته حکومت تسلیم کړل په دې ډول د دغه سیمې مسلمانانو یوه
تاریخي سهوه وکړه په دغه توګه ګلاتعلیو خلقیانو د سیمې د پټو
جاسوسانو په ښوونه ملک عبد الرؤف د محمد یار خیلو کلي او سیدنکي
ګلاب د همدغه کلي، معلم نواب خان د خلیلي جلات خان د علي همت
او څو تنو نورو مسلمانانو ونیول او ټول یې خدای ج خبر دي په
کومه کنده واله کې تر ننه د خلکو له نظره پنا کړل همدا رنګه
د دغه توې خلقیانو د حاجي منیر، حاجي محمد امان او کریم خان —
کورونه لوټ کړل او اور یې ورواچاوه -

O

# د جګړې تیاری د قوې وتل او د ولسوالۍ فتح

کله چې قوې د چک ا ولسوالۍ په خوات د ۸۷ کې په خپلو اوږه فعالیتونو باندې پیل وکړ او د ربوت ځمځه د مسلمانانو مرکزیت لوی شو د سیمې مجاهدینو مشرانو د خپلو خپلو مربوطو درو په تنظیم او د حکومت پر خلاف پروګرامونو ته شورو وکړه.

د جوزا په «۳۱» نیټه قوه د ا ولسوالۍ ځمځه ووتله او د «۲۰ع» کسو په شا وخوا کې عسکر ئې له هراتي ولسوالۍ او عبدالقدیر سره په ډوتال کې پریښودل کله چې د ربوت مرکز رنګ شو د خوات درې مجاهدین کوم چې وسلې یې تسلیم نه کړې له ملک خانصاحب او حاجي محمد امان سره له سیمې نه ووتل، په سیاب کې حاجي نورګل، کوثر، ولسوال ابن یمین، ډاکټر غلام حضرت ملک شریف، محمد منیر اخوندزاده، حاجي محمد امان، حاجي محمد ظاهر، سید محمد د خوات د لوړ کلي او سید ونکي، حاجي خرم د وراتخیلو سید ونکي او ملک غلام حیدر د آبکن ار، فتح الله خان حضرت محمد ۔

ډګروال غلام دستګیر خان ،[1] مستوخان، شهید جلات خان او ځینو نورو کسانو دګن شمیر مجاهدینو په ګډون یوه غونډه وکړه چې دغه پریکړه یې وشوه چې دخوات له خلکو سره به دحکومت پرخلاف مرسته کوو دهمدغه مطلب ترسره کولو لپاره حاجي «کوتر» دډلګۍ دمجاهدینو دراوستلو لپاره واستول شو او نورکسان دعربانو له مجاهدینو سره دکتلو لپاره عربانو ته ولاړل، په عربانو کې دجوزا په «۲۸» مه د«ګینګو» په کلي کې بله غونډه وشوه چې دغه کسان پکې وو :

ډاکتر غلام حضرت «زرغون» ولسوال ابن یمین، انجنیر شیرزاده ، عبدالغني ، فتح الله خان، ملک غلام حیدر، ملک محمدشریف، غني جان ډګروال غلام دستګیر، حاجي منیر ملک خانصاحب ، حاجي عبدالقدوس مرحوم ،حاجي محمد امان

---

[1] له ډګروال صاحب دتیم پکول دیش اوتسبېتمو لو وروسته مرتد رژیم د هزاره ؤ پرضد دعملیاتو دعمومي قوماندان په توګه چک ته راواستاوه کله چې آیکنذا رته ورسید لومړی ترڅه وخته دمجاهدینو لخوا نظربند او وروسته یې چې له حکومت سره ملګرتوب ثابت نه شو په غونډو کې دګډون حق هم ورکړل شو چې وروسته بیا دڅه وخت لپاره دمجاهدینو له خوا عمومي قوماندان هم وټاکل شو.

محمد ایوب، حاجي احمد جان، حضرت محمد او څني نور کسان.

په دغه غونډه کې یو د مجاهدینو د نظم او قوماندې په باب خبرې وشوې چې څنو کسانو د عمومي قوماندان او د هغه مرستیال تاکل غوښتل خو بالاخره په دې برخه کې د عمومي قوماندان په تاکلو بریالي نه شول او دا وویل شول چې په هره دره کې دې ځانګړی قوماندان او رئیس وټاکل شي.

بل دا چې د ګردن مسجد په مجاهدینو کې څه ګړبړ غلي وُ او نظم یې خراب وُ چې له څه خبرو اترو وروسته د دغه غونډې څخه حاجي "کوثر" ابن یمین او شیرزاده وټاکل شول[1] دغه کسان ګردن مسجد ته ولاړل د جوزا په "۳۰"مه نیټه یې د "مُهمندو" په کلي کې د سیمې د درستو مجاهدینو په ګډون ستره غونډه جوړه کړه د ډیرو خبرو اترو په نتیجه کې حاجي آغا ګل د رئیس او اله داد د عمومي قوماندان په توګه وټاکل شول.

بالاخره د سرطان "۵"مه نیټه د چک پر ولسوالۍ د بیا حملې نیاره وټاکل شوه او د حملې تاریخ د ټولو درو مجاهدینو ته ورسید د دغه حملې څخه مخکې د تیرو پیښو څخه تجربې واخستل

---

[1] حاجي کوثر په غونډه کې نه وُ خو بیا وروسته راغی او ګردن مسجد ته لاړ او مشرو سره یو ځای ولاړ.

شوې د مجاهدینو یوه برخه د ملک امیرخان، محمد شریف
"علاقه‌دار"، حاجي محمد امان او حاجي خرم‌دل او معراج د علیشې
اله سنګ، خوات او نیک پایقول له مجاهدینو سره د قوې د
لارې بند ولوپاره له اینوخاک څخه ترګاي پورې د سرک په
شا وخواکې پریوتل، د عرباتوګردن مسجد، ګوړه او سیاب
مجاهدین د ولسوالۍ په لور راغلل دد غه جنګ عمومي قوماندانې
لکه د مخه چې ذکر شول نه وه چا ته سپارل شوې. خو د جنګ په ساحه
کې شیوزاده، محمد آصف د بلاق، قوماندانان عبدالغني، ملا
محمد شریف د آیکندار، حضرت محمد، اله داد، حاجي زلمی، حاجي
عبدالله، قاسم آخوندزاده، دوراني او څینې نورکسان د جنګي
عملیاتو قوماندانان وو.

د قوې له وتلو نه یوه ورځ وروسته د سرطان په لومړۍ
نېټه د شاه قلندر په برخه کې د اله سنګ او علیشې مجاهدینو سرک
بند کړ. وروسته بیا د نیک پایقول او خوات مجاهدین هم ورسره
ملګري شول. د سرطان په "۳" نېټه نجوا له د باچي پر ولسوالۍ
حمله وشوه. له کابل څخه د چک اولسوالۍ څلورتنه کمونستان د
"نعمت الله" په ګډون چې د وژل شوي "محمد علم" ورور ؤ په یوه
والګا موټر کې راتلل د شاه قلندر په برخه کې د مجاهدینو په لاس

ونیول شول او تر تحقیق او جرم ثابتید و وروسته و وژل شول.
یوه تومانچه دوا نګا سره مجاهدینو ولجه کړل.

د سرطان په پنځمه نیټه د چک اولسوالۍ ته له کابل نه یو موټر خوراکي مواد راوړل کیدل چې د هغو مجاهدینو لخوا ونیول شول، په دغه موټرکې پر خوراکي موادو سربیره د پولیسو څلورتنه منصبداران د څلورو میلو کلاشنکوفونو سره ژوندي ونیول شول څرنګه چې د خلقي بد نام ګوند سره یې اړیکي ثابتې نه شوې نو بیرته روغ رمټ خوشي او خپلو کورونو ته ستانه شول.

پر هغه ورځ پر اولسوالۍ برید وشو، د سرطان په «۷» د کنځغتو دوه تنه ورونه په یوه سنګرکې شهیدان شول په دغه ورځ د برخوات محمد قاسم آخوند زاده او دعربانو مرچان نومې مجاهد ټپیان شول، جنګ ورو ورو زورنیوه او دحق لارې مجاهدینو دهوتل په لوړخپلې سنګرې ورنږدې کوله ترڅو چې یو بل ته یې لاسي بمونه رسیدل.[۱]

---

[۱] له پورتني ذکر شوي شهیدان او ټپیان د بمونو د پارچو په واسطه سره وو.

د سرطان په «۷» مه هراتي اولسوال د مجاهدينو دخارلو پاره دوربين په سترگو کيښو د خود مجاهد گولۍ يې په سترگه ورپاره شوه او ووژل شو، همدارنگه عبدالقدير نومي خلقي هم ووژل شو

د سرطان په «۸» مه د شپې د «۱۲» بجو په شاوخوا کې د اولسوالۍ پاتې ژوندي خلقيان چې په دې وپوهيدل چې نسې له حتمي نابودۍ سره مخ دي، له هوټل نه را ووتل او له تيارې نه په استفادې سره يې د سيد آباد اولسوالۍ په لوري د درشيلي په غره مخه وکړه ترڅو وختونه مجاهدينو ته د دوی له لوري د ډزبندۍ په باب دا په خيال کې وکړشيده چې هسې به د کارتوسو سپما کوې ترڅو د مجاهدينو سره تر ډيره مقاومت وکړای شي خو د سهار له روښنائۍ سره ورو ورو مجاهدين د هوټل په لوري ورنږدې کېدل.

او يو يو ډز به يې ورباندې کاوه، ترڅو په دې باوري شول چې څوک په هوټل کې نشته د سهار له لمرڅوک سره سم د گروپ مسعود عمومي قوماندان الله داد د هوټل پر سر شين بيرغ ورپاوه، ورو ورو له هر لوري مجاهدين پر هوټل رامات شول او د الله اکبر شعارونو په شور او زوږ کې يې د خوات په ولس کې خپله تاريخي فتح اعلان کړه.

د هوتل په څنګ کې د حاجي منير، حاجي امان او حاجي خرم د کورلوټ شوي اسباب قالينې او نور شيان تول وموندل شول چې د هر چا يې خپل خپل کالي واخستل او بيرته يې وړل. د ولسوالۍ د فتحې سبا ته د نورخيلو کلي کې غونډه وشوه چې د غه کسان پکې وو.

حاجي محمد طاهر، حاجي محمد امان، ډاکتر غلام حضرت، حاجي تورګل، ابن يمين، ملک محمد شريف، فتح الله خان، ملک غلام حيدر، حاجي احمد جان، مامور حبيب الله، عبد الغني، حاجي عبد الله، جلات خان، حاجي محمد منير، حاجي خرم، ملک خان صاحب، ملک خليل، ملک عبد القدير او نور... او زيات د اولس مشران په د غه غونډه کې راټول شوي وو، په د غه غونډه کې د سيمې د اداري تشکيلاتو او جهادي نظم لپاره د مناسبو مسئولينو د ټاکلو لپاره خبرې پيل شوې، حاجي تورګل «کوثر»، ابن يمين او ډاکتر غلام حضرت «زرغون» چې پخوا په اولس کې ښه بلد شوي وو او پياوړي او سرتيري کسان يې تشخيص کړي وو. په يوه خصوصي جلسه کې د غو دريو تنو د ولسوالۍ د تنظيم او اداري لپاره په لاندې ډول تشکيل جوړ کړی و.

د ګردن مسجد رئيس حقداد او قوماندان الله داد.

د عربانو دری رئیس انجنیر شیر زاده قوماندان ظفرخان .

د سیاب دری رئیس ملک محمد شریف قوماندان دورانی .

د گوړه دری رئیس حاجی غلام حبیب قوماندان شهید جلات خان

د بیک سمند دری رئیس حاجي عبدالغنی قوماندان ملک موسی مرحوم

د علیشی انبوخاک اواله سنگ رئیس حاجی محمد ظاهر او قوماندان

ملک امیرخان .

د خوات دری رئیس حاجی منیر د هغه مرستیال ملک خان صاحب

قوماندان حاجی محمد امان او مرستیال یې حاجی خرم .

د سیبکی رئیس مولوی عبدالحلیم "بیرگدم" او قوماندان ملا

عبدالسمیع .

د نیک پا یقول درې رئیس شاه ولی او قوماندان مسنوخان .

او د آبکدار رئیس غلام حیدر او حضرت محمد یې قوماندان .

همدا رنگه د جنگ عمومي قوماندان د گووال غلام دستگیرخان

او مرستیال یې انجنیر شیرزاده

او د امنیې قوماندان حاجي محمد امان وټاکل شول .

نور په سیمه کې د کلیو قوماندانان او گروپ مشران وټاکل

شول چې ترلاس لاندې مجاهدین یې د پېرې گزمې او جهاد په

نیکو کې اداره کول .

پورتنی تشکیل حاجي تورګل غونډي ته وړاندي کړ او دا يي
ورته وويل چي دغه تشکيل په عاجل ډول حکمتيار صاحب رالېږلی
او څرنګه چي د هجرت او رهبري له مرکز سره خلکو ډېر کلک اخلاص
درلود بيله څه تغير څخه ومنل شو يوازي د ګردن مسجد تشکيل
چي پنځوا حاجي تورګل، ډاکتر زرغون او انجنير شير زاده
ورغلي وو او غاګل د حنداد په ځای چي د الله داد ورور دی رئيس
وټاکل شو، وروسته بيا څه نور بدلون نه دي رامنځته شول.
چي په خپل ځای به يي يادونه وکړو.

---

# دخلفیانو دوهم یرغل

د نورخیلو غونډۍ جریان درلودچې د حسن بیک په غانیي له سید آباد ولسوالۍ څخه د ملیشې را اوښتلو آوازه شوه، د هغو څخې ته مجاهدین ورغلل، د دواړو خواوُ ترمنځ د سختې نښتې څخه وروسته ملیشه په شا وتمبول شوه، دوه تنه بیا وړېي مجاهدین "حنان او حضرت گل" په دغه جګړه کې شهیدان شول، وروسته بیا څرګنده شوه چې مرند ژبیم د چپه ولسوالۍ د سرتیرۍ او ولس دایماني دوو ماتولو لپاره د یوه پراخ یرغل او تیرې نقشه په مخکې درلوده

او غوښتل يې چې لومړی د حسن بيک له لوري مليشه يان د
درشيلي په غزه کې حاکمې څوکۍ تر کنترول لاندې راولي ورپسې
د جغتو له لارې د ګردن مسجد په دره له پاسه او د توپ له
لارې د کوزې خوا څخه تنګي ته ننوځي او قواوې سيمې ته ننه باسي خو د
خدای ج په فضل يې د حسن بيک او د رشيلي مليشې له دوو
تنو مړيو او څو ټپيانو ورکولو وروسته بېرته په شا وګرځول
سره له دې چې لوړې او حاکمې څوکۍ يې نيولې وې خو وتښتېدل
او د مجاهدينو په وړاندې يې پښې ټينګې نه کړای شوې.

د ثور په «۱۰» مه د جغتو له لارې ترغښاشي پورې چې د
چک اولسوالۍ او جغتو ترمنځ د بريد حيثيت لري د کمونستي
رژيم قوا را ورسيده په هغه ځای کې د ګردن مسجد
مجاهدينو دا له داد تر قومانداني لاندې کلک مقاومت ورسره
وکړ چې د دښمن يو د لاړ و جوړولو لپاره لوی بلدوزر د
مجاهدينو پر مرميو له کاره ولېد او ځای په ځای پاتې شو.
د «۵۰» تنو په شا و خوا کې خلقيان ووژل شول او تور
مازديګره له مقاومت وروسته مخ وګرځاوه او وتښتېده.
ورو ورو د اولسوالۍ د مجاهدينو روحيه د بې پايې او مرتا
رژيم په وړاندې د لوړتيا په لوړ داوج نقطې ته ورسيده او تور

مې د جهاد لاره په ډېر ډیار د ټولو سترګو او قربانیو سره سمه کلکه کړه.

په همدغه ورځ چې له جمعې څخه د ګردن مسجد په نورې د قوې ډراتګ خبر خور شو د ګردن مسجد په مجاهدینو د ګربت خره په ګړنګونو کې بل زړګی وشو چې د مجاهدینو د لا ډېر او تسل سبب شو، هغه دا چې له پېښورنه د ډېرو بیسو مهاجرو لومړنۍ کاروان د قاضي بشیر «همت» په قوماندانۍ د ګربت په آسمان څکو څوکو کې د ګردن مسجد له مجاهدو ورونو سره یو ځای د وکالې شول

---

له د چک ولسوالۍ او نرخ او میدان دغه ورونه لومړی ځل سیمې ته ورسېدل چې د سیمې والوله خوا یې بې ساری ښه راغلاست وشو. قاضي بشیر «همت» مولوي منګل قاضي ذبیح الله «آصف» انجنیر آغا شیرین، عبدالولي، عبدالقدوس، برهان الله «اکبر» معلم بسم الله، مولوي عبدالصمد «زلمی» ملا ظاهر جان، محمد نبي «شفیق» فضل الربي احدي، محمد معین «محمد نذیر» «نهیب» قاضي حسن «عرفانیار» قاضي «فیصل» مولوي عبدالظاهر «غفاري» مولوي محمد پذیر، مولوي شهزاده، عبدالله د چک ولسوالۍ څخه او شهید عبدالقدیر «نیکبین»

شهید معلم «سید خان» معلم عبدالهادي، ملا عتیق الله شهید ملا عزیز الرحمن «عبداللطیف» ملا نجی الله شهید او ختی نور ورونه د نرخ او میدان او سید ونکي وو چې ورو سته یې د چک او ولسوالۍ د مجاهدینو په مرسته په نرخ او جلریز کې جبهې جوړې او سیمه یې آزاده کړه، همدا رنګه ملا عبدالقادر، شهامت شهید دا ولسوالۍ مرفق څخه یو ورځ وراندې سیمې ته راورسید او له پو ز تنیو ذکر شویو ورونو څخه له خروارنه وا د ځم شو.

وروسته بیا هغه مزل وهلیو ځوانانو هم د توی مخې ته د بارو تو لامبې مېنو نه ښې کړل او د ګردن مسجد له مجاهدینو سره یې په دغه جګړه کې برخه واخستله،

سبا ته د نویو مهاجرو کاروان له ګردن مسجد څخه د «خوات» په لوري وخوځېده په خوات کې د ولسوالۍ ټولو مجاهدینو د دوی بې ساري استقبال وکړ، شپه یې په «رشیدانو» کلي کې تېره کړه او سبا ته د ولسوالۍ لومړۍ کرښې سنګر «شاه قلندر بابا» ته روان شول، په «علي خاني» کې د ولسوالۍ د زیاترو درو د جهاد مشران راغونډ شول او د سرطان په «۱۲» مه یې په یوه شاندار غونډه کې، د دغه د پاره چې آساسي تنظیم جوړ کړي وي له پېښور نه راغلیو ورونو ته یې د جهاد په امورو کې واک ورکړ.

# دولسوالۍ فعالول او جهادي نظم

تردغه وخته پورې د سیمې د مجاهدینو ټول پام یوازې د اولس په پاللو او د ملحد رژیم د دسیسو او حملو شنډولو باندې اړول شوی ؤ خو تر دې وروسته نور ټول ولس په یوه غږ د اسلام د دفاع په وړاندې مورچل کې درېدلی ؤ له بلې خوا سیمې ته د یو د تدبیر او سنګر خلک نوي راغلي وو نو د اداري تشکیلاتو لپاره یوه غونډه بیا د علي خاني په کلي کې د سرطان په ۱۲ «۱۳۶۰» نېټه یوه لویه غونډه جوړه شوه چې د تېرو غونډو وپرګډون کوونکو سربېره د غه کسان نور هم پکې شامل وو.

قاضي بشیر «همت»، استاد فضل الربي «احدي»، انجنیر آغاشیرین، عبدالولي، قاضي منګل، مولوي محمد پذیر، مولوي «زلمی» او نور.

په غونډه کې له یو لړ خبرو وروسته په دې پرېکړه وشوه چې ولسوالي باید فعاله او په کار پیل وکړي چې هغه به د خلکو داخلي معاملاتو او جنجالونو ته رسیدګي کوي، علاوه پر دې به

نظامي قوماندانې د جهاد مسئولیت پر غاړه اخلي او سیمې څخه به دد فاع ګروپونه او پر دښمن د عملیاتو ګروپونو اداره په لاس کې لري، په همدغه مجلس کې انجنیر عبدالولي د اولسوال په توګه د حاجي محمد امان لخوا د غونډې برخوالو ته پیشنهاد شو چې ټولو په اتفاق ومانه، وروسته بیا مولوي عبدالصمد ،، نابلي ،، د حرکت انقلاب اسلامي په نمایندګۍ د حزب اسلامي ترڅنګ د ځانګړي ولسوال غوښتنه وکړه، په دې دول لومړی اختلافي حرکت ډګر ته راووت چې د مولوي عبدالصمد ،، نابلي ،، پیشنهاد هم بالاخره ومنل شو او عبدالرحیم خان آخوندزاده د حرکت انقلاب اسلامي ولسوال وټاکل شو، حاجي محمد امان د امنیې قوماندان او مستوفیان یې موسیبال، او د جنګ قوماندان ډګروال غلام دستګیرخان او موسیبال یې انجنیرشیرزاده وټاکل شول

دغه خبره په پام کې ساتل پکار دي چې دغه اداره ی تشکیلات تقریبا همسې تشریفاتي القاب پاتې شول او د وسله والو مجاهدینو اصلي قوت د محلي قوماندانانو تر قوماندې لاندې وو.

اوس به راشو دې ته چې کله چې د بادینه خلقیانو دوهم حملې له دوو خواوو څخه ناکامې شوې نو بیا د چک اولسوالۍ څخه د کسات اخستو په خاطر د سرطان په ،، ۱۲ ،، نیټه یوه لویه قوه چې د سیمې لوی لوی خلقیان هم پکې وو د چک په لور را واستوله.

## د ریم یرغل

د سرطان د میاشتې په شپاړسم سهار د توپ په دوه لارې کې د ټانګونو او پوځي موټرو یوه ستره قافله د چک په لور وخوځېده مجاهدین چې د هغه د حکومت ناوړه نیت پوهیدل او هره شیبه یې د دې انتظار در لود چې خلقي داړه ماران په داړه ماري لښکري پرې ور مارش کوي نو یې د هغه د شاه قلندر په بر خه کې د توي په مقابل کې سنګر نیولې وُ، په دغه جګړه کې مجاهدین د یو ،، RPG 7 ،، توغندي ویشتونکي او د وومرمیو خاوندان وُو. نو یې په ډیره ننداره ورتیا د سرک په غاړه د فول دې ټانګونو سره د مقابلې تیاره ځایونه نیولي وو، د ټانګونو د رارسیدلو سره سم د مجاهدینو د تکبیر چیغې پورته شوې او فضا د بوړیو ټوپکو کړسهار په سر واخسته، قوه له دوو ورځو ډیرو مړو او ټپیانو ورکولو وروسته د لنګر دښتې ته ورسیده سبا ته یې په هغه عنه د ښته کې خپه سره او سامان بر بر کړ او د سرطان په ،، ۱۹ ،، مه یې پر بېک سمند ننیری پیل کړ، نو ماښامه د بیک سمند توریالیو مجاهدینو د حاجي غني، شهید مدبر بیان محمد او شهید سخي جان نو قوماندې لاندې کلکه مقابله ورسره

---

ـه د پاکستان تخنه را غلیو ورونو د غه راکټ په څدرانو کې د یوه انګریزي ،، ۱۱ ،، د زیا ټوپک په بدل کې ترلاسه کړ او ورسره یو يې وو ره

وکړه چې بالاخره یې شاته وتمبوله.

دکاکا خیلو او شاه قلند ر څخه وروسته مجاهد ینو دګلي په کلي کې د توپ د مخنیوي لپاره په کوڅو، باغونو او بامونو سنګر نیولي وو چې په «۲۰» مه نیټه له راس سباوو سره سم له بامونو نه پټرول وربا ندې ورتوي شول او دلته په دوه ټانګونه د سپا رلیو سره د اور په لمبو کې پاره شول، دغه جګړه د چک ولسوالۍ د ډیرو سختو جګړو په کتار کې راځي، یو یې خوانه نور «۲۰» تنو پوري په نوکو وسله وال قوت او بل لوري ته په لسګونو ټانګونه، توپونه او ډول ډول ماشیندارې او وزرونکې وسلې د هغوی پر خلاف په ډیر زور چلیدې خود خدای ج په فضل د روسی مز دورانو ټول زور د مجاهدینو د تکبیرونو په شور دکې د ک او بې اغیزې شو، په دغه جګړه کې اتل مجاهد او نوریالی شهید ملاعبدالصمد شهامت ملابهادر شهید ملاظاهرجان او سردار خان شهید ډیر د یادولو وړ سرښندني وکړې چې اسلامي تاریخ به یې د تل لپاره په یاد پریږدي.[1]

---

[1] بیا وروسته چې له پاکستان څخه د را غلیو کسانو په ډله کې چې په ګرز مسجد کې د مجاهدینو په غونډه کې پاتې شو د غه جګړې په دکور کاله لاړ او وځنګې را غی او په دغه ویاړمنه غزا کې د شریکیدو ویاړ ور په برخه شوی دی. «الحمد لله»

له ډېرو سختو جګړو وروسته قوه په همدغه ورځ چک ته ورسیده او دهوتل او اوسنۍ ډیپو ورانو کنډوالو ته واړول، وروسته یې دسیبکې ترخه سني ورانه نه دي تګ ته دوام ورکړ چې دګردن مسجد او عربانو مجاهدینو یې دحاجي آغاګل، الله داد، حاجي زلمی عبدالغنی، مامور حبیب الله..... په مشوره مقابله وکړه او له څو کسو مړیو ورکولو وروسته یې بیرته د اولسوالۍ په لوري ماته وکړه چې له دوه ورځو څخه وروسته د ‹‹ ۵ ›› کسانو په لاس ورکولو نورځې کمونستان بیرته دکابل په لور وتښتیدل او سیمه د مجاهدینو په لاس کیوته په دغه قوه کې ‹‹ ۳۰ ›› تنه مجاهدین دګروپ، بیک سمند او ګلي په سنګروکې شهیدان شوي وو چې څنې یې لاندې کسان وو.

علی خان شهید د بمباۍ کلي او سید ونکي سید محمد د ‹‹ لوګر ›› امیر محمد شهید د علیشي او سید ونکي د ملک امیرخان زوی په ګرداب کې شهیدان شول.

مدیر نیاز محمد شهید په بیک سمند کې، ملا محمد ظاهر جان شهید او سردارخان شهید د ګلي په کلي کې له دوو تنو نورو سره شهیدان شول، په دغه تاریخي نښته کې ملک امیرخان، محمد ولی د ګوډه قوماندان، شهید ملا عبدالقادر، شهید سخي جان، غلام علی

حاجي عبدالله، ډېره ونډه درلوده او د مجاهدينو په قومانده
کولو کې يې ستر رول درلود.

د نورو پېښو تفصيل به په راتلونکو ټوکونو
کې ولولئ که خدای ج کول.

خلقیانو له خلکو څخه وغوښتل چې زرتر زره په موټروکې سپاره او د هدف په لور روان شي بیایې د خلکو دتشویق لپاره له «...» څخه غوښتنه وکړه چې د میکروفون له لارې خلکو ته خبرې وکړي او د هزاره ؤ سره یې جګړې ته چمتو کړي هغه چې میکروفون ته ورغی «الله اکبر او یا چار یار» چیغې یې وکړې او له همدغه چیغو سره د ولسوالۍ شاوخوا وضعه بدله شوه. دغه تکبیر ټولو په یوه غږ بدرګه کړ او هر چا د خپل کلي کور مخه ونیوه. . . .

د رڼا دلښکرو پولادي خنجرو «ګولیو» د تیارو خیټې و څیرلې او د حق د قافلې یون یې د سباوون په لوري لنډې کاوه د سیمې ښځې او نر چې له ما ښامه د همدغه شیبو په انتظار په خپلو انګړوکې ګرځېدل د با مونو سرته وختل او د مجاهدینو له تکبیرونو او دزونو سره یې خپلې زارۍ او د وعا ګانې د خدای در بارته ور سره غبرګې کړې سیمه ټوله شور په ﷺواخسته او هرې خواته د کمونستانو د ور کاوی لپاره د خدای (ج) په لوري د عجز لاسونه او چت وو. شپې ورو ورو د رڼا په لور ګام واخست چې د افق پرلمن د خدای (ج) په لارکې د چک ولسوالۍ لومړنی شهید (...) وینو انعکاس وموند. . . .

(د کتاب له متن څخه)